**پښتونولي**

مولانا قيام الدين خادم

درنو لوستونکو! څو کاله مخکې، مرحوم ليکوال همايون شينواري، د مولانا قيام الدين خادم د دغه قلمی نسخې (پښتونولي) يوه کاپی چی ځان سره امريکا ته راوړی وه، د تکزاس د ايالت نه ماته راوليږله. شينواري صاحب وويل چې دا کتاب يی په انګريزی ترجمه کړی دی، خو لږ نور وخت په کار دی چې بشپړ يی کړی.

ما کتاب ټايپ کړو، خو په ډيرو برخو کې،ځينې جملې او کلمې بيخی لوستل کيدلې نه شوې. د شينواري صاحب نه مې کومک وغوښته خو هغه وويل چې د دغه قلمي نسخی رنګ ډير شوی ؤ، او له دې نه ښه کاپي ترې نه شوه اخستل کيدلی. نو، پرته له دی چې ځينی برخی يی تشې پريدم بله چاره نه وه.

زيبا خادم

تینگه ورورولي

یا

پښتون او پښتونولي

مولف : مولانا قیام الدین خادم

کال: ۴۱۳۵

بسم الله الرحمن الرحیم

والذین جاهدو اوینا لهذ سبلنا

چا چه زما په لار کې وکیښ زیار

نو هرومرو به ور وښیو خپله لیار

د خدای په لیارکې زیار

بل هیڅ شی نه دی، بې دده د لوېدلي مخلوق د خدمت چار

په نړی به له پښتانه لوېدلی قام

بل نه وې که ولتول شي دا جهان

وهل شوی دی د علم، تورې سیاست اوقلم له پلوه

ځپل شوی دی د هر قوت له پلوه

چه څو تینګ نه شي په پوهه او ایمان

خلاص به نه شي له شره د شیطان

ما ولیکل ددې کار دپاره پنځوس کتابه

چه وباسم پښتون د جهل له دریابه

د ځان په پیژندو به خلاص شي له ذهني غلامۍ

او په دې شان به ختمه شی په دوی افاقي غلامي

دا دی زما له کارو یو کار

خدای دې وکا چې وي یو لوی شاهکار

مسمی شو په پښتون او پښتونولۍ

غوره کړی دی پوهانو د نړی

کابل: اول د جدی ۴۱۳۵

اول باب : تمهیدی خبرې

پښتونولي او سته یې

پښتونولي: د عربی گریمر په اصطلاح جعلی مصدر (۱) دی. جعلی مصدر یعنی جوړ کړی شوی مصدر. معنی دا چه طبیعی او اصلی مصدر نه دی. په عربی او سامی ژبو کې مصدرونه طبیعی کلمی دی نه جعلی او ساختگي مثلا ضرب، نصرو علم، طبیعی مصدرونه دي. ضاربیت ، مضروبیت او علمیت جوړ کړی شوي او سازشوي مصدرونه دي. چه د یوې کلمې پوری د (یت) دالحاق په واسطه جوړیږي. نه اصلی او طبیعی. له اصلی مصادرو څخه په عربی کی د افعالو او صفاتو اشتقاق کیږي. مگر له جعلی مصادرو څخه د افعالو او صفاتو قانوني اشتقاق نه شي کیدی.

ښه نو، دغو ته مصادر څله وایي؟

جواب دا دی چې ددغو کلمو معنی مصدری ده. مثلا ضرب: وهل ، ضاربیت : د وهلو فاعل کیدل. نو پر دغه اساس، د پښتونولی معنی ده: ( افغانیت یا افغان کېدل)

په پښتو ګريمر کې پښتونولي، د معنا نوم دی.

دغسې کلماتو ته ذاتي صفت ويل کاملا بې معنا خبره ده. پښتنولي مرکبه کلمه ده.

د پښتون او ( ولی ) د يو ځای کيدو جوړه شويده. او که ووايو چه پښتنولی مشتقه کلمه ده، بده به مو هم نه وي ويلي. ځکه چې په اريايي ژبو کې له يوې کلمې بله جوړول يا اشتقاق کول د سروند او پسوند ( پريفکس او سفيکس ) په واسطه کيږي. دلته هم ( ولی) پسوند يا سفيکس دی چه د پښتنولی د کلمې پوری يو ځای شوی، او د معنی اسم يې ترې جوړ کړيدی. په دې حساب له پښتون نه پښتنولي، له عزيز نه عزيزولي له ورور نه وروروليی مشتق کيدی يا جوړيدای شي. پښتون د قام نوم او ملت نوم دی. خو چه ووايو پښتنولي، نو د پښتون د کلمې هغه محتويات، معنويات او صفات چه يو شخص ورباندی متصف شی نو پښتون يې بولي. همدا رنګه عزيز په پښتو کې د قام يو فرد ته وايی. خو چه ووايو عزيزولی، نو معنا يې د قوميت صفات ، معنويات او مزايا وي. نو پښتنولي د معنا نوم دی. لکه ميلمستيا او حيرانتيا او معنا يی ده: ( افغانيت ) شرحه يې داده : پښتانه هغه چا ته پښتون يا افغان وايی چه د ( پښتنولی او افغانيت ) د اخلاقو، ادابو او مميزاتو خاوند وي.

ددې نه دا نتيجه لاس ته راځی چه د پښتنو يعنی افغانانو قوميت د دنيا د نورو قوميتونو په شان د نسب سلسله نه ده، بلکه د اخلاقو ضابطه ده. که څوک سل کرته هم د نسب سلسله پښتون ته ورسوی، پښتون به نشی، څو چه د پښتنولی په صفاتو او اخلاقو مصف نشی. د پښتنو فلسفه وايی: ( قوميت د اخلاقو ضابطه ده. نه د نسب سلسله ) دا رنګه زمونږ يو پښتون پيژندونکی شاعر وايی:

قوم نوم دی د اخلاقو چه افرادو کې شريک وی

څه که وينه يې د فرانس وي په اخلاقو چې بلژيک وي

چه د بل په لاړو لوند شي آيزنهاور شي جرمن ته

يا بهرام د خوشحال زوی شي بدنامی پريږدي وطن ته

نو له دغو څيړنو څخه دا استنباط وشو چه د پښتنو يعنی افغانانو په منځکښی هغه چا ته پښتون او افغان ويل کيدلی شی چه د افغانيت او پښتنولی په صفاتو او

کریکټر مزین وی. هر کله چه پښتنولي او افغانیت، پښتون او افغان د صفاتو او ممیزاتو نوم دی، نو د پښتنولی یعنی افغانیت په معنی هغه وخت پوهیدی شو چه د ( پښتون ) کلمی په معنی پوه شو! یعنی د پښتنولی د معنی پوهه، د پښتنولی د کلمې په پوهه اړه لري !

پښتون کلمه هم لکه پښتنولي مشتقه ده. مخکښی مو وویل د اریایی ژبو اشتقاق د سروند او پسوند د لګیدلوپه واسطه کیږی. په پښتون کی ( ون ) صفتی پسوند دی. یعنی د اسم نه یی صفت جوړ کړی دی. لکه چه وایی فلانی پښتون سړی دی. یا لکه فلانی هیڅ پښتون نه دی. نو اصل کلمه د پښتو پاته شوه. خو پښتو هم د اریایی ګریمر د اشتقاق له مخې، جوړه شوی کلمه ده. ځکه چه ( و) نسبتی پسوند دی. نو د پښتو معنی شوه ( پښت ته منسوبه ژبه یا اخلاق ! ) نو د پښتون نه پښتو ، او له پښتو څخه ( پښت ) لاس ته راغې. ( پښت )د یو تاریخی قام نوم دی !

د پښت کلمه: د ( ښ ) فونیم په لحاظ تاریخی قدامت لری. په دوه نورو لهجو هم ویشل شویده. ( پخت پکت ) د هندی تلفظ پر اساس ( پکهت ) هم ویل شویده.

نو اصل کلمی د زمانی په تیریدو څلور لهجی پیدا کړیدي.( پښت، پخت، پکت،پکهت ). هر کله چه لهجه د کلمې هغه تغیر ته وایی چه معنی ورسره تغیر نه مومی، نو دغه څلور کلمات د یوې معنی بېل بېل نومونه دي. مخکی مو اشاره وکړه چه ددې کلمو معنی او مصداق یو لوی تاریخی قام دی. د یوی کلمې دغومره لهجوی انشعاب په ډیر لرغونتوب دلالت کوي. شک نشته چې دا کلمه خورا ډیره لرغونې او پخوانې ده.

اوس به دا ووایو چه نه دغه انشعاب کی څه مطالب هم مضمر دي که څنګه؟

کله چه و مو ویل ویل پښتنولی، پښتون ، پښتو، بیخ او اصل مونږ ته (پښت) ښکاري چه د پښتنو په لهجو کې تر اوسه لیدل کیږی. پښت اوس په پښتنو کې د نسب او د وینی د اشتراک او همنژادئ په معنی دی.

مثلا وايي: (د چا له پښته يې ؟ ) يا لکه چه وايی (فلانی پښت په پښت پښتون دی.) يا لکه چه وايي : (شهاب الدين غوری په پنځه څلويښتم پښت کی ملک سهاک د جمشيد معاصر ته رسيږي )

د پښت د کلمی (ښ) فونيم ډير پخوانی دی. په نورو اريايی ژبو کی هم ليدل کيږی. لکه چه په روسی او جرمنی ژبو کی خو ددې فونيم وجود څرګند دی.

د (پکت) په باب زما عقيده داده چه دا تلفظ د سکندر له راتلو وروسته د يوناني لهجی په لحاظ عام شويدی. باکتريا، پکتيا، پکتيکا د يونانی مورخينو له قلمه مونږ ته را رسيدلی دي. البته (پکهت) چه (که) فونيم په کی دی د سنسکريت د فونولوجی له بقاياو څخه معلوميږي.

د (پخت) نه (بخد) او بيا بخدی جوړ شويدي د بخدی کلمه او تلفظ يی د زردشت د (سپينتمن) د ژند په واسطه زيات شهرت وموند. دغه کلمی د (بختی اوښانو) د نامه سره تر اوسه په پښتنو کې رواج لري.

بخدی د ام البلاد هغه نوم دی چه د ژند ..... کی تر نن ورځی ساتلی راغلی دی. لکه چه وايی: ( له بخد نه بخل او بيا بلخ ) د تورو په وړاندی وروسته کيدو جوړ شويدی.

باختر يا باکتريا نه ورروسته، (بخت او بکت) نه ساز شويدی. خو دا لجه له يونانی متاثره معلوميږي. باختر چه په فارسی کی و غرب په معنی مستعمل دی.

له دې څخه دا، لاست ته نشی راتلای چې باختر به فارسی کلمه وي ځکه چه (باختر) د ايران په شرق کې دی، نه په غرب کې. پاتی شوه باکتريانا. دا کلمه د هغه وخت يادګيرنه کوی چه (بلخ) د ښاروالی له احاطې د مملکت درجی ته رسيدلی ؤ، ځکه چې باکتريانا ظرفی کلمه ده لکه د اريانا په شان. اما اريانا د لومړنيو اريايانو د هغه وخت ياد تازه کوی چه په قومونو او قبايلو ويشل شوی وو. ښارونه او تمدن يې درلود، خو باختر په کې، مرکزي حيثيت لاره. مګر باکتريانا له اريانا څخه ماته وړاندیی بريښي. ځکه دا هغه وخت دی چې پخپله باختر مملکتی حيثيت لري. يوی لويی ساحی او سيمی ته ويل کيږی چې په زر ښارونو مشتمله ده. يعنی باکتريانا هيواد، چې د اريانا په شان په ولاياتو نه وه ويشل شوی.

د باکتریانا تمدن د اریانا له تمدن څخه محدود نظر ته راځی.

خو پښت د (ښ) په لحاظ خپله په افغانستان کې دری لهجی لری: جنوبی لهجه چه له هراته تر ملتانه ویل کیږی. منځنی لهجه چه له غوره تر اباسینده ویل کیږی. شمالی لهجه چه له بلخه تر سیالکوټه ویل کیږی. اوس به معلومه شوی وی چه ددغو ټولو کلماتو بیخ او بنسټ د (پښت) کلمه ده. لکه چه و مو ویل په دغه زمانه کی په تاریخ کی عظیم الشان قام شته چې بخدی ، باختر، باکتریانا، او بلخ د هغه له نامه ساز شویدی. ښه نو دا قام څوک دی؟ څه شو؟ تاریخونه څه وایی؟

مخکی تر دې چه د (پښت ) په شرحه ګډ شو، نو د بلخ د یو بل نوم تذکار په کار دی چه له ټولو قدیمی او مخکی دی. دا نوم بلییکا دی.

په ریګوید کی د بلخ او باختر ذکر نه دی راغلی. خو اتهروید باختر د ( بلهیکا) په نامه یاد کړی دی. په بلهیکا کی د (بل بلک) وخت فکر ته راځی. دا هغه وخت دی چې د ایندوکوښ د شمالی سیموهستوګن خلکو لومړی ځل د (اور) بل ځل او (بلک) ولید. وی په خپله ژبه ورته ( بل ځل بلک) او (اور) ووایه. له برق سامیانو برق جوړ کړ. د اور په نامه په بابل کی د انګریزی ژبی یو او آر په قوس کی راځی همدغو خلکو جوړ کړ. دا خلک د سر دریاب او سوغدیانی له کومی برخی څخه د اټکل له مخې اته زره کاله مخکی د بن النهرین نه دغی سیمی ته لیږدیدلی وو. د یو ار کلمه په اصل کې ( یو، ار ، ای ) ده. چه بیا وروسته (فور او فایر) ګرځیدلی ده. (فور) د سره کوتل د ډبر لیک کلمه ده چه په انګریزی کی وروسته (فایر) شویده. خو ددی تاریخی حادثی د وقوع په اصلی ټاټوبی تر اوسه په اصلی تلفظ چه اور دی ( او ار ای) پاتی دی.

د اور ایجاد او اختراع په هغه وخت کی داسی یو شی ؤ لکه زمونږ په عصر کی د ایتم د انرجی اختراع. نوخلکو د ځان سره دا نوم یوړ او په دی نامه یې په دنیا کې ښارونه او یادګارونه پریښودل.

باختر یا باکتریا نه وررروسته، (بخت او بکت) نه ساز شویدی. خو دا لجه له یونانی متاثره معلومیږي. باختر چه په فارسی کی د غرب په معنی مستعمل دی.

له دې څخه دا، لاس ته نشی راتلای چې باختر به فارسی کلمه وي ځکه چه (باختر) د ایران په شرق کې دی، نه په غرب کې. پاتی شوه باکتریانا . دا کلمه د هغه وخت یادګیرنه کوی چه (بلخ) د ښاروالی له احاطې د مملکت درجی ته رسیدلی ؤ، ځکه چې باکتریانا ظرفی کلمه ده لکه د اریانا په شان. اما اریانا د لومړنیو اریایانو د هغه وخت یاد تازه کوی چه په قومونو او قبایلو ویشل شوی وو. ښارونه او تمدن یې درلود، خو باختر په کې، مرکزي حیثیت لاره. مګر باکتریا له اریانا څخه ماته وړاندی ریښي. ځکه دا هغه وخت دی چې پخپله باختر مملکتی حیثیت لري. یوی لویی ساحی او سیمی ته ویل کیږی چې په زر ښارونو مشتمله ده. یعنی باکتریانا هیواد، چې د اریانا په شان په ولایاتو نه وه ویشل شوی. د باکتریانا تمدن د اریانا له تمدن څخه محدود نظر ته راځی.

خو پښت د (ښ) په لحاظ خپله په افغانستان کې دری لهجی لری: جنوبی لهجه = چه له هراته تر ملتانه ویل کیږی. منځنی لهجه چه له غوره تر اباسینده ویل کیږی. شمالی لهجه چه له بلخه تر سیالکوټه ویل کیږی. اوس به معلومه شوی وی چه ددغو ټولو کلماتو بیخ او بنسټ د (پښت) کلمه ده. لکه چه و مو ویل په دغه زمانه کی په تاریخ کی عظیم الشان قام شته چې بخدی ، باختر، باکتریانا، او بلخ د هغه له نامه ساز شویدی. ښه نو دا قام څوک دی؟ څه شو؟ تاریخونه څه وایی؟

مخکی تر دې چه د (پښت ) په شرحه ګډ شو، نو د بلخ د یو بل نوم تذکار په کار دی چه له ټولو قدیمی او مخکی دی. دا نوم بلهیکا دی.

دوهم باب: د پښت څېړنه

د پښت اصل معنی نشی معلومېدای. خو دومره بیخې څرګنده ده چې د پښت په نامه په ویدی او قبل التاریخ اریایی روایاتو کې یو ډېر لوی، قوی، مالداره، ایمانداره، ایثارکوونکي، بهادر، زړه ور او ساهو قوم یاد شویدی.

دا قام په قوی اخلاقو او کریکټر معروف دی. پښتو پښت ته منسوبه کلمه ده.

یعنی پښت قام ژبه یا کریکټر. په همدغه اساس نورو ژبو نه پاړسو، ایندکو، عربو ویل د پښتو ګریمر پربنا بی اساسه کار نه دی.

نو ترڅو چه په علمی او تاریخی لحاظ پښت قام، او د هغو ژبه او سجایا و نه پیژنو، نو څنګه به پوه شو چه (پښتون) یعنی پښتو لرونکی څه معنی؟

:نو ښایی چه دغه (پښت) چه د پښتو، پښتون او پښتنولۍ اساس دی وڅیړو

کهزاد صاحب لیکی: د افغانستان، هند او فارس د وګړو افسانی او اساطیر وایی چې د باختر د سردریاب علاقه، د نژادونو زانګو ده. له دغه ځایه څخه انسانان د نړی څلور واړو خواو ته خپاره شویدی.

د پامیر د شاوخوا خلکو کې دا قصه مشهوره ده چه انسانان په لومړۍ ځل د پامیر په لمنو کی اوسیدل. دغه وخت په ناڅاپی ډول اوتون (اتشفشان) وچاود. ډېرې هری خوا ته باد شوې او ورغښتې. په دغه سببب وګړي د څلورو سیندونو د طبیعی مجراګانو او درو له لارو څخه چه انډوس، اکسوس، سردریاب او تارم پرانستی دی د دنیا و هر پلو ته تیت شو.

د افغانستان د قدیم تاریخ د لومړی جلد ۳۳ م.

دا خبرې په بلهیکا پورې را یادی شوی چه البته د (بل او بلک) نه به جوړه وي. خو دلته یو احتمال دا هم شته چې (بلک) پخپله د بلخ ماخذ دی. (ک) اسمی پسوند دی. نو د بل نه (بلک) جوړ شو. دغه کاف به (کهه) شوی وی.

نوټ دا اخری ه نشته باید جوړ شی په ټاپینګ کی

لکه د هندیانو لهجه چه ده. نو (بلکهه) شوی به وی. او (بلکهه) په اسانۍ سره اسانی سره (بلخ) کیدی شی. ، او د بلک نه بلکا او بلهیکا هم جوړېدای شي.

کهزاد صاحب وايي چه په مهابارت او د سنسکریت په ادبیاتو کی هغه متعدد قبایل د (بلهیکه) .چه له باختره یې د (سندهو، اباسیند) څخه ورها پلو مهاجرت کړیدی په نامه یاد شویدی. د (بهلی) یا (باهلی) څخه چه (ه سپین سترګی ه ) نن یې په (ح) او (ل ) یی په (د) بدل شی(بخدی) یا (باخدی) جوړیږی.

..ژند په دغه نامه باختر یاد کړیدی

واله دوپوسن فرانسوی وايي: ډير هغه مهاجر قبايل چه له باختره يې د ( سندهو: اباسيند) نه ورته قبايلو ته مهاجرت کړی دی

د (بهيکه ) په نامه ياد شوی. او (بلهيکه ) د سنسکريت په ادبياتو کی د (بهليکه) په صورت راغلی دی. د بلخ قديم نوم دی. پرزولوسکی وايی چه اعليبا د پنجاب او بلخ بلهيکايان يو شی دی. بهيکه يا بهليکه نسبتی اسم دی، يعنی بلخيان (۱)

د افغانستان لرغونی تاريخ اول جلد صفحه ۷۸ ، ۸۲

هر کله چې د قوی رواياتو او دلايلو په لحاظ بخدی د پښت نامه ته تکيه کوی، نو معلوميږي چه په دغو مهاجرو بلخيانو کې به د (پښت) د لوی ټبر خلک هم ډېر و.+++++++++

کهزاد بل ځای وايی په ۲۰ زره قبل م کلونو کی چه د مصر .... دا برخه لکه چه ټايپ شويده

زمونږ مورخين د ۲ زره ق م په مهاجرت کی دوه قامونه په ډير اهميت سره يادوی. يو بهارت او بل پښت چه دوی يی پکت بولی. د بهارت قبيله د ويدونو، مها بارت، مهاراين او نورو په ذريعه ډېره مشهوره شويده، او زمونږ مورخين يی مخکی يادوی. مگر که سړی.... د خلکو د اقوالو پسې نه ځی. خپل ځان د نورو په خوله نه پيژنی او خپل ځان پخپله پيژندل وغواړی نو په وضاحت سره ذهن ته راځی چه په ( بهارت او پارت ) کی فرق تش د سپين سترگی هې (۰) او ( ب پ ) دی.

سپين سترگی هې د هندی لهجی نښه ده چه په ډيرو تورو پسې يی زياتوی. که دا نه وي نو د بارت او پارت څه فرق دی؟ همدارنگه (پارت) او (پارتيا) چه د بېستون په ډبر ليک کې په (ت) نه دی بلکه په (ث) سره د (پرثو) او (پارثيا) په صورت راغلی ده. ....(۱)

د کهزاد د افغانستان قديم تاريخ دوهم جلد ص ۱۲۳د کابل طبع

پارت د (پارس ) سره نښلوي. نو (بارت پارت پارس) د يوی کلمې يا يو نوم مختلفی او بېلی بېلی لهجی ښکاري. پارتيان په يقينی ډول د (پښت) د کورنی

خلک دی. او پارتیا پنځه سوه کاله یو مترقی دولت ؤ. او دغه شان (کشاتریه) او (تورکشه)خلک چه د ویدی عصر څخه يې د یلفتلیانو د امپراطورئ پورې ددغه او بهادر قوم څخه بل قوم نه دی. د پارت بقایا نن هم د اپارتی یعنی اپریدی په نوم په پوره اهمیت ځان په دنیا پیژني.

دا تحقیق تر اخره ولولی تاسو به څرگنده شی چه د (بهارت) د قبیلې په مهاجرت کی د دوی سره څومره ډېر (پښتان) لیرډیدلی دی. راځی چه خبره د سر نه را ونیسو.

له دغو څخه پارتی قبیله د غرب خوا ته تللی ده او هلته یی په خپل نامه پارتیا جوړه کړی وه. د ق م د دریمی پیړۍ په نیمایی کی پښتانو د پارت د قبیلی یو مشهور شخص چه اساس یی باله د خپل قام د ځینو خلکو سره د غرب په لور د یونانیانو په مقابل کښی د خپلواکۍ اعلان وکړ. پارتیا په خپلو جغرافیایی حدودو کښی د ٦ ق م صدئ نه ډېر پخوا د اریانا د ډېر غربی ولایت په حیث موجود ؤ. (١) د افغانستان قدیم تاریخ د دوهم ټوک ١٢٣ مخ

ځینی لا دا هم وایی چه پارت د شړل شوی معنی لری. دا توجیه د مهاجرت سبب ښیی چه ممکن پارتیان د خپل لوی باختری قومیت څخه مرور شوی، دغلته راغلی وی. پارتیا د غرب له پلوه د خزر د بحیری په غاړه د ماد قبیلی د ولایت سره لگیدله. د ارمنی منابعو معلومات دا ښیی چه دوی به پارت ته (پهل) ویل.

د پارت یوه څانگه (پهلوا) یاده شوېده. د پهل او پهلوا څخه فکر فورا د (پهلوی) کلمی خوا ته ځی.

له هغو معلوماتو څخه چه له هیرودوت څخه لاس ته راغلی دی، د پښتانو یوه بله وړه څانگه نوره هم پسې غرب ته ولاړه او د ارمنستان په لمر پریواته کښی یی واړول. دغلته یی هم ځان ته (پکتیس) یا (پکتویس) وویل او دغه خاوره یی په (پکتیکا) مشهوره کړه. (٢) د افغانستان پخوانی تاریخ لومړی جلد ص ٩

پکتیس او پکتویس (ایس) به د جمعی علامه وی. چه اصل یی (پکتی) یا (پکتوی) پاته کیږی او دا په اسانی (بخدی) کیږی.

موجوده ترکمنستان (عشق اباد) مرکز د ځینو محقیقنو په اند له (ارشک) نه (اشک) او (ایشک  عشق ) شویدی. ځکه چه دغه سیمه د پارتیا جز وه.یوه بله خبره باید هیره نه کړو، هغه داده چه د (گرجستان) او (غرجستان) تر منځ څه فرق دی؟  نو ولی و نه منو چه دغه غرجستان غرجیان او زمونږ غلجیان دی.

د مورخینو پلار هیرودوت په ۴۰۰ ق م کښی د (پکتی) یا (پکتیس) یا (پکتویس) قام او د دوی ملک د (پکتیکا) یا (پکتیا ) په نامه یاد کړیدی. له دی څخه ښکارهمعلومیږی چه دا هماغه (پښت) قام دی چه مسکونه ځمکه یی (پښتیخا) یا (پښتونخوا) نومیږی چه نن یی مونږ پښتیانا بولو.

بطلیموس له پښتانو څخه په ضمنی ذکر تیر شویدی. وایی : (اراکوزی) (ارغنداو)

له پاروپامیزاد یعنی له هغه علاقی څخه چه په جنوب کښی یی باید (پکتین) ولټول شی، هغه غر جلا کوی چه (پرسوېس نومیږی.)

د هېرودوت پکتیکا یا پښتیخا د جغرافیا په لحاظ هماغه ساحه ده چه نن ورته پښتونخوا وایو. او پرون مو ورته روه وایه. دا ځمکه په ځینو تعبیرونو کې له هراته تر سواته خپره ده. جنوبی حد یی د کابل سیند ټاکی او په شرق کې یی اباسیند بهیږي. کسی غر او سپین غر یی په منځ کې پراته دي.

هیرودوت وایی په پکتیکا کی څلور قامه هستوگنه لري. (۱) گنداری چې د ویدی سرودونو له وخته په همدې نوم همدلته اوسی، موجوده کندهاریان دی.

(۲) اپارتی دی چه نن افریدی بولی.

(۳) ستاگیدی دی چه نن ورته خټک وایی.

(۴) دادیک دی چه ځینو لیکوالو سهوا په تاجک تعبیر کړیدی. بطلیموس پکتیکا اوپښتیخا د اراکوزی د ولایت جز گڼلی دی او جلا یی نه دی یاد کړی.  د اریانا دا ولایت له غزنی څخه تر اباسینده غځیدلی دی. داسی ښکاری چه د پاروپامیزا ولایت شرقی برخه په کی شامله ده. ځکه چه نورستان او دادستان په کی راتلل. هیرودوت دادیک قبیله د پښت له پښو څخه بللی ده. (۱)

اوس به لږ شرحی ته ور داخل شو چه بهارت قبیله یی د پښت قام سره لری.

د مارتن فرانسوی ګډون او کومار هندوستانی له مطالعاتو څخه معلومیږی چه بهارت قبیله د اریایی مهمو قبیلو له جملی یا د کشاتریه توریالی قام له مهمو قبیلو څخه یوه قبیله ده. (۲)

کشاتریه یا کشریی چه د (تورکښ) مقلوب دی تل د پښت قام ستایوال نوم یاد شویدی.

نوټ: (۱) اریانا رساله ص ۱۰۲

(۲) د افغانستان د پخوانی تاریخ لومړی جلد ، ۸۱ مخ

د بهارت قبیله چه کوم وخت د ایندوکوش جنوب ته را واوښته ، نو ځینی پښی یی د ارغنداو له لاری او ځینی یی د کابل، کورمی او ګومل د درو له منځه پنجاب ته ور پوریواته. هلته بیا دا ټول قومونه او قبیلی د (بهیکه) او د (بهلیکه ) په نامه یاد شویدی چې معنا یی بلخیان یا د بلخ خلک دی. لکه چه مخکی مو وویل، د بهارت د قبیلی یو معروف ښاخ بهاراد واجا ؤ. د دوی له بادشاهانو یو د بودا چه د ارغنداو په حدودو کی یی یوه سلسله جنګونه وکړل. ددغه تکوم له منځه د ویسوامیترا غوندی ریشی راوتلی ؤ. د لس ملکانو په مشهور جنګ کی چه په هغه کی پښتان ، پکتویس، پارتیان، چه ټول پښتانه دی، الینایان یعنی نورستانیان او نور قبایل شامل وو. ده شان د ویسوا میترا د تبلیغ له مخی متْحد شول، او یوه متحده جبهه یی جوړه کړه. او دغی جبهی د بهارت دستوداس اریایی باچا په مقابل کی مخکی هند ته راغلی وو کلک او تقویه کړ. په هغو دوه شخړو کی چه د اریایانو په خپل منځ کی یوه په ارغنداو او بله یی د اریانا په کورنۍ په کوزنی برخه کی واقع شوه. دا دواړه د بودا سا باچا په جنګونومشهور دی. په دغو دواړو کی د بهارت عشیری، رشیان ، زعیمان، ملیکان او پادشاهان سهیم وو.

هر کله بهارت قبیله زوره وره او قوی ده، هند یی اشغال کړاو په خپل نامه یی د اریا په وزن بهارت ته ورته وباله. ورته د پښتو په ژبه کی اوس هم د ورشو مال څړته وایی اوشته. دغه جنګ چه د اریانا په کوزنۍ برخه کی شویدی. هماغه د لس ملکانو جنګ دی چې د پښت ټبر ډیری قبیلی هم په کی وی.

ابیناس شاندرا داس د کلکتی د یونیورستی د تاریخ معلم وایی چه پنکه جانا په پنځو قبیلو یوه د بهارت قبیله ده. دی وایی چه یارو او تور واشان یوه قبیله ده. او پورو او ترینبو بله قبیله ده. یعنی څلور قبیلی دوه ګنی.  دا جنګ د راوی سیند په غاړه په پنجاب ی شویدی. په دی جنګ کی متحده جبه ماته شوه، او شکست یی وکړ. ځکه نو د پښت تکوم نور قبایل هند ته لاړنه شول.

په دې جنګ کی (۱) النیایان (نورستانی) (۲) پښتان (پښتانه) (۳) بهالینان د بولان خلک، (۴) شیوایان د شیوا مذهب پیروان د شیوکیو یا ښیوی خلک(۵) ویشانن

(٦) انویان (۷) دریوهو (۸) تورواشایان ی (۹) یارو (۱۰)توررویان.

په دغو لس قبیلو کی نورستانی د اردیان او د پښتنو عزیزان دی. د بولان خلک چه د وطن په نامه یاد شوی دی هم پښتانه دی. شیوایان د مذهب په نامه یاد شویدی چه دا هم پښتانه دی. توررواشایان د توری خلک دی چه دا هم پښتانه ګڼل کیږی. تورو د غریز په معنی دی چه اپریدی ګومان کیدی شی. دا ټول په هند کی بهارتیان وبلل شول.

؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟

لس ملکان  لس بادشاهان

د ملک نوم یوازی په پښتنو کی پاتې دی.

د مهاجرت په لحاظ  پښتون   پتون  په تون په وطن

افغان د پښتون په حواله اوګان  نه په تګ  په خپل وطن

پټان   پتان  په تان  په تون   په وطن

؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟

لس ملکان لس بادشاهان دي. هغه وخت ملک د بادشاه په معنی ؤ.  د ملک کلمه د واکدار او ولسوال په معنی تر اوسه یوازی په پښتنو کی پاتی ده.  دا هم دلالت کوی چې دا خلک او هغه تاریخی خلک د وینی او توارث کلک اشتراک لری.  د ملک سهاک څخه تر اوسه اکثره پښتانه بادشاهان د ملک په نامه یادیږی چه دا د

هغو د پښتونولی ثبوت دی. د ملک کلمه عربی ته د حرکاتو په لږ تغیر له پښتو څخه تللې بریښی. (علم خدای سره دی)

پښتان یا پښتانه په ریگ ویک کښې:

په ریگ وید کښی پښتانه د لس ملکانود جنگ نه پرته په نورو مواقعو کی هم ذکر شویدی.

د ریگوید په څلورو سرودونو کی دغه قوم یادی شویدی کله د پکتان په نامه او کله د پکتانو د بادشاه (پکهتا) په نامه. د ریگوید د دوهم جلد په اولسم او اتلسم مخ کی.

(۱)

پښتان پښتانه ، (۲) بهالانا د بولان خلک (۳) الینایان نورستانیان (۴) شیوایان د شیوا د مذهب منونکی د شیوکیو خلک. (۵) ویشانن. دا پنځه قومونه یو ځای او یوه ډله یاد شویدی. وایی چه اریایی ملگری (پورته پنځه قومونه ښیی) تریتسو قبیلی ته د لارښوونی او د هغه عشق له کبله راغلل چې د جنگت او بهادرۍ سره درلود.

له دغه عبارت څخه دا څرگندیږی چه یوازی پورته پنځه قبیلی نه بلکه تریتسو (ټی، ار، آی، ټی، ایس ، یو ) باید په انگریزی ولیکل شی. قبیله هم پښتانه وو. ځکه دغه نژادی عصر ؤ او قبیله د قبیلی سره د وینی او نژادی اړی له کبله په جنگونو کی دریدله .

د پښتانو د بادشاه له ذکر څخه چه په ریگویدا کی راغلی ده، را معلومیږی چه د ویدونو د عصر پښتان د ایندوکوښ په جنوب کی د بادشاه او د ادری نظام خاوندان وو، او نور اریایی قبایل هم د دوی ملگری وو. ځکه به په جنگونو او جگړو کی د دوی سره مرستی او کومک ته حاضریدل او په اتفاق سره به د مخالفینو په مقابل کی جنگیدل.

په یو بل سرود کی د ایندرا د خاص لطف نظر د پښتانو د بادشاه په باب کی یاد شویدی. ددینه دا معلومیږی چه ایندرا د جنگ خدای د پښتانو او د دوی د بادشاه

په باب تل د لطف او مهربانۍ توخه لرله. بی شانه لورینه یی کوله چه فتح او غلبه به یی په نصیب کیدله. لنگی ، غواوې ، اوزی به یی په نصیب کېدلی.

د ریگوید د یو بل سرود څخه میشل وید شناس دا نتیجه اخستی ده چه یو وخت د پښتانو قبیلی او د ترمیاوانا ویدی شا عرب ، قبیلی ترمنځ خوابدی پښه شوه او کار جنگ ته ورسید. شاعر چه د سبا د سترگی رب النوعی سره پخوانی علاقه لرله، مذیح بې په قسم قسم عطریاتو خوشبویه کړ او لوړ تحایف یی تقدیم کړل چې د پښتانو په بادشاه او قبیله باندی بری ومومی. لیکن ایندرا د جنگ خدای د پښتانو دبهادر قام طرفداری وکړه. د شاعر قربانی یی معطل کړه او هغه روحانیون چه په ذبح مامور وو، هغوی یی وغورځول. بیا نو (توروایانا) د پښتانو بادشاه د ایندرا د رضا دپاره شرابونه ، د سیلاو پشان په نذرانه کی وبهول او په نتیجه کی فتح او ظفر دده په برخه شو.

د پښتانو قبیلی او د بادشاه اقتدار: د لس ملکانو په جنگ کی د (سوداس) نوم راغلی دی چې لس قبیلو دده په مقابل کی یوه پره جوړه کړه . خو مات شول. د سوداس پلار چه (دیوو داسا) نومېدو، د متفرقو اریایی قبایلو سره جنگونه کړیدی چه میدان یی اراکوزی دی. دیوو داسا په ټولو جنگونو کی فاتحاو غالب ؤ. په یو ځای کی راغلی دی چې په یو جنگ کی یی د مقابل لوری ۹۹ جنگی کلا گانې د ایندرا په مرسته ورانی کړې. ولی سره ددې ټول قدرت او زوره په یوه جگړه کی چه (ایو) او (کوتسا) د (پورو) د مقتدری قبیلی بادشاهان هم دده پر خوا وو، د پښتانو د بهادر بادشاه (پوروایانا) په مخکښی یی ماتی وکړه. شاندراداس د ریگویدیک کلچر په کتاب کی وایی ، دا لومړی ځل دی چه ایندرا د پوروداسا سره کومک و نه کړ او دی د پښتانو بادشاه په مقابل کی مات شو. له دې څخه د پښتانو د بهادر قام اقتدار اواهمیت د ویدی قبایلو په منځ کی په ښه شان سره ښکاره کیږی. او دا هم ترې معلومیږی چه ایندرا همیشه په جگړو کی پښتانود قام پر خوا ؤ، او ور سره یی مرسته کوله.

هیرودوت وایی چه په پکتکا کی څلور نوری قبیلی د پښتانو سره خوا په خوا اوسیدل. هغه گنداریان، ستاگیدیان، اپارتیان او دادیکا دی. گندارا په جغرافیایی ډول د ریگوید په سرود کی ذکر ده. مگر ځنی ورنه نژادی مفهوم اخلی. گنداریان

همیشه په خپل ټاټوبی نه دي پاتی شوي. د ایندوکښ او آمو نه ور ها پلو هم سغدیانی تللی دی. سیستان ، ارغنداب او ګندهار ته خو معلومه ده چه ورغلی او پکې مېشت شوی دی. غالبه داده چه قندهار هماغه د ګنداران کلمه ده. او ځینی یی ګندوفارلن ته منسوبه بولی.

څه عیب به ولری که ددغو پښتنهوقومونو په باب چه افغانی دنیا تری تر اوسه هم بی خبره پاتی ده د تاریخ یو څه شواهد وړاند کړو.

ستاګیدی: زموږ د ملک ډیرو پخوانو قومونو څخه دی. هیرودوت او بطلیموس دواړه د دوی نوم اخلی. تر دی چه عیلامیانو او بابلیانو نه هم پټ نه وو. او ډیر شهرت یی لاره. وایی چه دوی دغه جګه سطحه کی اوسیدل چه په غور شهرت لری، چه له کابله تر هراته او له تر هلمنده ویره پرته ده چه د دوی په نامه کی ستا یا (ست) د سل په معنی دی. او ګیدی غوا ته وایی چه وروسته د ( ګډي) معنی ته نقل شویدی. او په وروستی معنی اوس هم په پښتنو کی دا کلمه شته. نو معنا یی شوه: د سل غواوو خاوندان. لکه چه نن هم په پښتنوکی د ( هزار بز) په نامه قام شته .

ډیرو مورخینو ستاګیډی خټک ګڼلی دی چه نن دا قوم د پښتیانا په جنوب شرقی څنډه کی د اباسیند په غاړه کی په زیات شمیر پروت دی، او د خوشحال خان غوندی ټبرونه په کی تیر شویدی چه د پښتنو کلتور یی په ښه شان تر اوسه ساتلی دی. زما خپل فکر دادی چه خټک او یو بل قام (شتک) چه د خټکو سره خپلوی لری. دا دواړه د (شیت) په لحاظ چه په شتک کی لیدل کیږی، د (سیتی) کلمی سره قرابت لری. چه تاریخ دا پښتون قام په زر ق م کی د منځنی اسیا لوی واکدار قام ګڼی. د شیتک کلمه د خټک نه مقدمه ده. خټک د ( ښ خ ) دوهمه او روستنی لهجه ده . دوی د اریانا (پښتیانا) په منځ کی اوسیدل. دا لوی قام اوس دغومره ووړ شویدی چه پناه په خدای !!!

اپاریتی: همدغه اپریدی دی چه د قام په صورت په تیرا کی اوپه متفرق ډول په ټوله پښتیانا کی موجود دی. اپاریتی د بطلیموس د پاریتی سره یو شی دی. ددی کلمی معنی (کوهستانی) ده. ځکه چه په زند او سنسکریت کی دا کلمه د (پاوریو) او (پاریوه) په صورت د غره په معنی راغلی ده. معلومیږی چې د هیرودوت له

خته لږ وروسته ، (۴۰۰ ق م ) کی دا ښاغلی پښتون قام په دغو غرونو کی د زمریانو غوندی پروت دی. او پر خپل ځان پخپله حکومت کوی.

دادیک: هیرودوت دوی د پکتیکا له قومونو او پښت له تکوم څخه ګڼلی دی. ولی بی دلیله ځینو دادیک تاجیک ګڼلی دی. (دادیک داردیان نه دی او داردیان تاجیک نه دی.) له کشمیره تر ایندوکوښه دا خلک داردیان دی. زیات یی د کاسیانو بقایا او د قدیم باختر د پښت د تکوم خلک دی چه له ډیر پخوا څخه دغلته اوسی.

د دوی ژبی د پښتنو سره مقایسه کیږی. ښاغلی کهزاد د دادیک په باب دا ټکی تکراروی: دا هغه خلک دی چه نن یی تاجک بولی. مګر د خلکو په بی سنده بللو پښتانه تاجیک نه شی جوړیدای. پښتنو خپل تاریخ ته پخپله ډیره کمه توجه کړیده، او پردو پښتانه قومونه عمدا ګډوډ کړیدی. ځنی لا کرلانو ته هم بل څه وایی. د لودیانو او غلجیانو په باب چټیات او دغه رنګه خپله د پښتون په باب د یهودیت پروپاګنډ څومره بی ځایه او له علمه لیری ده او د جاهلیت د وخت خبری دی چه په علمی نظر ورته التفات نه دی پکار.

اصلی خبره داده چه (دادیک) له (دادا) څخه جوړه شوی کلمه ده چه پښتانه یی کاکا ، مشر ورور، او حتی پلار ته هم وایی. نو دا دادیکان د پښتنوسکنی عزیزان او د یوی کورنۍ خلک دی، په فارسی ژبه کی هیڅوک تاجک نه کیدای. که نه نو ایرانیان به ټول تاجک وو. زما خپله عقیده داده چه په اریانا (پښتیانا ) کی تاجیک په استثنا د کومی مهاجری کورنۍ کورټ بالکل نشت، او که څوک مدعی وی، نو دا ګز دا یی میدان!!!

الینایان : د ویدی عصرالینایان د ننی عصر نورستانایان دی. د پشیانو په شمول چه له هماغه لرغونو زمانو څخه په دغه خپله ځمکه اوسی. دوی د ډیرو دلایلو په استیناد باختریان او د پښت د کورنۍ خلک دی. په دوی کی یولوی قام د

( کاتی) په نامه دی چه کټ مټ د کاسی بل شکل دی. او کاسیان خو ښېشکه چه پښتانه دی.

پشئي قومونه د نورستانيانو سره تړلي دي، او تړول دارديان دي. د دوی ژبی او کلتور بيخي سره ګنډلي دي. پشئي کلمه ماته (پښئی) معاومېږي چه د پښت نه ماخوذه ده. د قعلېټک اتو څوکۍ ملکزيان ځان غوريان بولي. دا خبره بی دليله نه ده. ځکه د ملک کلمه غوري قومونو د ځانه سره تر اوسه ساتلي ده.  ماته داسی ښکاري چه عربي (ملک به د پښتو ( ملک) څخه ماخوذه وي. ملک نن هم په پښتنو کي مشر او واکوال ته وايي. خو دومره ده چه د وړی احاطي واکوال !

کهزاد وايي د کنړ او لغمان نورستانيان د شغنان اوروشان او د بدخشان او پامير د نورو برخو سره ځيني مدقيقينو د نژاد له مخې يو ګڼلي دي. تړلوته (هومو الينوس) يعنی غربی او       په هر صورت دا تړول دارديان دي. او غير له داديکانو څخه نور خلک دي. دوی ته تاجک ويل د تاريخ لوی ظلم دی چه له جاهليته پای دی.

بريسايا: بړيڅي دي. ددی قبيلي نوم د ( ديووداسا) شهزاده سره په جنګ کی (ريګويد) ذکر کړيدی. قوی نظريه داده چه په دا جنګ د ارغنداو په حصه کی واقع شوی دی. بړيڅي د قندهار په ولايت کی تر اوسه معروف او مشهور دی.

اوس دا خلک د کلابس (قعله بست) په حدودو کی د هلمند په ښئی غاړه کی پراته دی. د (فتح خان او رابيا ګله) قصه دومره په پښتنو کی مشهوره شويده چه هر پښتون به اوريدلی وي. دغه د قصي هيرو فتح خان بړيڅ دی. زمونږ له معاصر شعراو څخه يو وايی:

(پاڅه فتح خانه په رابيا پسې- زور دی د بړيڅو د شبخون څه شو)

د فتح خان د ملګرو په لحاظ   اوس په پښتنو کی (بړيڅې) د ملګری او تابعدار معنی پيدا کړيده. دا قصه د ځينو په فکر ډيره – پخوانی ده  چه اوسنی يعنی د چنګيزيانو د وخت رنګ ورکړ شويدی. شمس الدين کافر چې په کی يادديږی هماغه شمس الدين کرت دی چه د مغولو له خوا حکمران ؤ. او په خپل پښتون قام يی د اغيارو د خوشحالی دپاره ظلمونه کړيدی. دا قام د چخانسور، لنډی بړيڅی، شوراوک، هلاک او  خاش روډ په علاقو کی اوسيدلی او پروت دی چه تاريخ يی يادوی. د هلمند بړيڅی اوښ وانی کوی. دا قوم د ملی قائد ازادخان په لښکر کی زيات داخل وو. او ډير په ميړانه جنګيدل.  نو د تاريخ بريسايا همدغه اوسنی

بړیځ دی. دا خلک د زرنج پوری هم خپاره شول. (زرنج) د سیستان پخوانی مرکز چنگیز، او د اسیا باغ (سیستان) تیمور خراب کړل.

د تیرو څیړنو لړه نوره شرحه :

ظفرکاکا خیل، د خپل کتاب په ۱۱۸ مخ کی وایي: (یادو، او توورواشا) د ریگوید په سرودونو کی د (پارسوا) سره ښتی یاد شویدی، د دوی په باب داسې ویل شویدي: ( دا قبیلی ایندرا د ډیری لیری ځمکی نه را وستلی )

یادوگروپ د پنکه جانا یعنی پنځو قبیلو نوم دی چه توورواشا هم په کی یوه قبیله ده. دغه پنځه قبیلی او د پکتها د لس ملکانو په جنگ کی یوه ډله او ملگري وو.

نو مونږ دا ویلی شوو چه یارو گروپ او پکتها گروپ په خپلو کی د نو نسل، یوی عقیدې او یوی ژبی خلک وو. څه رنگه چه یادو گروپ د پارسوا سره تړلی پاتی شویدی ، دغه رنگه به پکتها گوپ هم د پارسوا سره مربوط پاتی شوی وی.

د خپل کتاب په ۱۱۹ مخ کی ظفر کاکاخیل وایی: ( د لس ملکانو په اتحاد کی چه پنځه قبیلی د یادو گرپو پنکه جانا دی او پنځه قبیلی د پکتها گروپ دی چه هغه پکتها، شیوا، بهالانا ، الینا او ویشانن وو چې د پکتیا نه د گندارا او د اردستان پوری اباد وو. ایا دغه موجوده پښتانه یوازی د پکت قبیلی اولاد دی او که د پنځه واړو؟ دی وایی زما قیاس دادی چه پښتون ولس د پنځه واړو قبیلو اولاد دی چه دا ټولی قبیلی د پکتها ځانگی حسابیدی شی. دلیل یی دادی چه د پښتننو نسب نامه اوس هم په اول سر کی په پنځو ځانگو وېشل کیږی. ښاغلی ظفر کاکاخیل وایی:

پکتیکا هغه کلمه ده چې هیرودوتس د پکتانو (پښتانو) د وطن په حیث استعمال کړیده. دی وایی زما قیاس دادی چه دا کلمه به په همدی شکل یا ددی په شان په یو بل شکل شکی د هیرودوتس د زمانی نه پخوا هم موجوده وه. ځکه ده د پکتانو وطن ورته ویلی دی. دا هغه علاقه ده چه هیرودوتس په کی څلور قامونه ښودلی دی. او د گندارا، دادیکیا، اپاریتیا او ستاگیدیاپه علاقو مشتمله وه. د کاستروس ښار چه مراد تری پیښور دی ، په دې علاقه کی واقع ؤ. په دی بنا ښاغلی کبړو او ځینی نور غربی لیکوال گندارا او پکتیکا د یوی خطی دوه نومونه گڼی.

(مخ ۱۲۴)

دی وایی لکه څنگه چه هندی اریایانو د بهارت قبیلی د قدرت او قوت له مخی ټولی هغی ځمکی ته د دوی په لاس کی وې، (بهارت ورته ) وویله ، نو زما په قیاس د پکتیکا نه هم مراد ټوله هغه علاقه ده چه ټول پښتان قومونه په هستوگن وو. او هر کله چه په گندارا کی هم پښتان اباد وو، نو په دی لحاظ گندارا هم د پکتیکا یوه حصه وه. مستر بیلو وایی: دادیکی هغه قبیله ده چه نن یی (داوی) بولی (۱۲۴)

داوی د کاکړو یوه قبیله ده. اکثر قراین په دی دلالت کوی چه د هیرودوتس دادیکیان او د پښتنو شجره لیکونکو کاکړ به یو خلک وی. د دادیکیا نه مراد (کاکړستان)دی. (مخ ۱۳۱ ۱۳۰ )

په ۱۳۲ مخ کی وایی: ( دا پکتویس به هغه خلک وو چه د اپاریتی او ستاگیدی په نومونوهم یاد شویدی. یا به داسی وواېو چې ( دوی په خپلو کی ورونه ، تربوران او د گنداریانو او د دادیکیانو عزیزان وو.

د ۱۴۰۰ ق م په شاوخوا کی یا ددی نه وړاندی د ارغنداو په منځ کی او د سپین غر په چارچاپیره علاقه، د کورمی په دره، د گومل او کابل په ناوو، په گندارا ، د کونړ په ناوه، د تالاش په وادی، د سوات په سیمه، د اباسیند تر غربی غاړی پوری په دغه علاقه کی چه کوم خلک اباد وو، هغه ارین او د پکتها ولس کی راتلل. دی قبایلو چه کومه ژبه ویله ، په وروسته زمانه کی د پکتها قبیلی په مناسبت په (پښتو) یا (پکتهو) مشهوره شوه. په دی قومونو ک یچه دغلته اباد وو، ټول کرلانی قومونه ، ختک ، اپریدی، توري ، بنگښ، بنوڅي، مروت ، مسود، وزیر شامل وو. دا رنگه دله زاک قومونه چې دا هم کرلانی دی، د خاښی خپلو او غوریه خېلو غوندی د پښت له جملی حسابیدل. دغه شان دادي، پنی، ډاسو، پروټ، بړیخ او نور په ازاکوزیا کی اباد وو. (مخ ۱۳۴ ۱۳۵) (۱)

(۱)

ښاغلی ظفرب تر دی ځایه وښوده چه د لس ملکانو قبیلې ، د پکتیا او گندارا خلک، دا رنگه دادیک چه داوی او کاکړ دی، دا ټول پښتانه دی. او په پښتنو کی راځی. د کونړ خلک هم پښتانه بولی. حقیقت همدا دی. ډیر قراین د همدغو خبرو اثبات کوی. زه هم په همدغه عقیده یم. ق خادم

د ښت بقایا تر نن پورې:
هر کله چه مو د ښت منابع په تاریخ کی مطالعه کړل، باید چه بقایا یی په اوسنی زمانه کی هم وګورو. ځکه ډیر تاریخی شیان وروسته محوه او ورک شی.

مګر (ښت) د قام اوملت د نوم او ددغه قام د وطن او هستوګنځی په ډول تر نن پوری په پوره عظمت او شهرت پاتی دی.

اول : دغه قام او ملت چه نن یی ځوک په (افغان) او ځوک یی په (پټان) پیژنی ، ددغه قام او ملت اصلی نوم (ښتون) دی. دا مو مخکی هم ویلی و چه د ښتون کد کلمی اصل اوبنسټ (ښت) دی. ښتون نن په دنیا کی د اعشارو ملیونو په تعداد او ډیرو قومونو او قبیلو په شکل د منځنی ایشیا په غریزو سیمو کی ژوند کوی. په ښتو ژبه خبری کوی او د خپل ژوند او ژواک مخصوص دودونه او دساتیر لری چه ښتنولی یی بولی.

دویم: د بلخ او باختر کلمی دی چه تر اوسه لا هم ژوندی او مروجی دی. لکه چه مخکی مو ویلی دی، ددی کلمو اساس هم د (ښت) کلمه ده. دا موضوع زمونږ د لیکوالو له خوا په دغومره قوت او جدیت سره تایید شویده چه انکار تری ناممکن دی.

دریم: (پشد) دا کلمه د دفتر د میرزایانو له خواد پشد په صورت لیکل کیږی. خوملت اوعوام یی (پشت) بولی. پشت هماغه لرغونی او تاریخی (ښت) را په زړه کوی.

پشد یا د ملت په اصلی تلفظ سره (پشت) د محل د نوم په ډول په دوه ځایه کی موجود دی. اول د کونړ (پشت) چه ځوکی نرنګ ته مخامخ د سیند نه پوری غاړه د غره په لمن کی پروت دی. داعلاقه لوی کلی لری چه ښتانه په کی اوسیږی.

علایم داسی ښیی چه دا (پشد) ډیر پخوانی او د لرغونی تمدن مرکز ؤ.

وایی چه ددغه کلی نه جنوب پلو ته په غرونو کی عتیقه اثار، د ښار نښی او په تیږو باندی د اسونو او سپرو تصویرونه موجود دی. یو قسم ډبر لیک هم شته چه خلک وایی د پښی دی.

ځلورم:

دوهم پشت: د باجوړ په بابو قره کی دی. دغه هم یو کلی دی ، مرکزی حیثیت لری. بابوقره هم دلالت کوی چه دی ځای یو مدنی مرکزیت لاره. ځکه چه بابوقره په اصل کی (باب القری) عربی کلمه ده. معنی یی داده چې دا ځمکه د کلیو، قریو او ولس دروازه ده.

لکه چه و مو ویل د پشد اصل (پشت) دی، او پشتت هماغه لرغونی (پښت) دی.

پنځم: پشت رود: د فراه په ولایت کی د یوه محل نوم دی. دغه پشت رود په اصل کی د (پښت رود ) دی. دا د هغی ځمکی نوم دی چه د غور د لوړو غرونو له خوا وراندی سیند را سم دی. پښت رود اصلا ددغه سیند نوم دی. وروسته بیا د محال نوم گرځیدلی دی.  دا سیند د (پښت) له  ټاټوبی (غور) څخه را بهیږی.

شپږم: پکتیا : زمونږ ننئ پکتیا هماغه پکتیا هماغه پخوانئ (پښتیا ) ده چه د (پښت) له کلمی جوړه ده.  (یا) ظرفي پسوند دی چې ورپوری لگیدلی دی. مخکی راغلی دی چه (پښت پکت ) لیکل شویدی.

اووم: پشین : کوټی ته نزدی د کاکړو علاقه ده . (پشین ، پښین ) د هماغه لرغونی (پښت) نه جوړه شوی کلمه ده. پښتین د پښتون قدیمی شکل معلومیږی چه په وزیرستان کی دا تلفظ ژوندی دی.

اتم: بختی: بختی اوښان د دوه کوهانو اوښانو نوم دی چه باید بلخی اوښان یی و بولو. دغسی اوښان لا تر اوسه شته. دغه بختی اوښان هماغه د (بخدی اوښان) دی.  (بخت او بخد) د هماغه قدیمی (پښت) بقایا دی.

نهم: بگتی: د بلوڅو پښتنو له مشهورو قبیلو، مری، گجکی، بزنجو، محمد حسنی څخه یوه ډیره پخوانی قبیله (بگتی) ده. معلومیږی چه دا (بگتی) کلمه هماغه (بخدی) او (پکتی) ده.

لسم: پشکاپور پشکالاوتی: دا دواړه کلمی د ساسانیانو په کتیبو کی، اوله د (پیښور) او دویمه د (چارسدی) دپاره د نومونو په حیث راغلی دی. نوی تحقیقات وایی چه په دواړو نومونو کی اوله کلمه (پشکا) په اصل کی (پښکا) ده، او د هماغه قدیم نوم (پښت) کوم یو شکل دی.

د پښت مترادف: پښت د پښتون قام او ملت ډېر لرغونئ نوم دی. خو دا قام او ملیت نور نومونه هم لري. لکه د (افغان) (پټان) او (بوتا) ځینی خلکو د قرایئنو له مخې زیار کښلی دی او کارِی چه (پښتانه ، افغانان، پټانان) بېل بېل خلک وښیی. مګر دا اغراض معاصرو پښتنو لیکوالانو په ډاګه کړل. دغسې مترادف نومونه نور قومونه هم لري. لکه المان او جرمن ، ژاپون او جاپان وغیره. پښتون خو د پښتون لرونکی قام معنی ورکوی..... ښه نو، افغان او پټان څه معنی لری؟ د افغان او پټان دپاره په کتابونو کی څه عجیب او غریب توجیهات راغلی دی. خو دومره ویل په کار دی چه دغه شان کتابونه د علم د انکشاف نه ډېر مخکی لیکل شویدی او ډېر یی د توجه وړ نه دی.

افغان: ښاغلی ظفر کاکاخیل، وایی (۱) چه د افغان کلمه د (اوغان) د کلمی معمول شکل دی. محمد الجبار العتبی په یمنی تاریخ کی په ډاګ ویلی دی چه (افغان د اوغان تعریب دی).

البیرونی ، فردوسی، بیحقی، منهاج السراج او داسی نورو د افغان نامه بیا بیا د پښتنو دپاره استعمال کړیده. د هجرت د اتمی صدی ځینو مورخینو هم اوغان استعمال کړیدی، لکه ظفر نامه، ملفوظات تیموری او مطلع السعدین وغیره.

پاورقی ده (۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې، مخ ۱۰۳

ښاغلی بلیو وایی چه د افغان او اوغان اصل (اغوان) دی چه یو زوړ تاریخی نوم دی او اریایی ریښه لری. شمس الدین سامی په قاموس الاعلام کی لیکی چه افغان یو ډېر پخوانی قام دی چه په پښتو ژبه خبری کوی. دا ژبه د اریایی ژبو په ډله کی شامله ده. د افغان نوم ددی خلکو دپاره ډېر پخوانی دی. هیرودوتس چه د ایندود استوګنو ذکر کړیدی ، هلته یی دا نوم د سکای لاکیس په قول په جزیی تعریف سره راوړی دی.

د هندوانو په مذهبی کتابونو کی (اسواکان) یا (اسواغان) د سوارکارانو په معنی راغلی دی. مهابارت د (اسواکا) په نامه د سرحد د سیمی ځینې قبایل یاد کړیدی.

همدغه اسواکا، د سکندر د مورځنیو له خوا د ( اساکینی ) په نامه یاد شویدی.

د سنسکریت په قدیمی لغاتو کی ( گاین ) لفظ د هغو خلکو دپاره استعمال شویدی چه موسیقی نه لری. احتمال لری چې دغه لفظ به د پښتو دپاره راوړل شوی وی، او وروسته به ورنه (افغان) جوړ شوی وی.

په ارمنی کی ( اوغان یا اغوان) د غرونو اوسیدونکو ته ویل شویدی. دغه شان د یونانی ژبی ( اگوان) دغه د ارمنی ژبی معنی افاده کوی. په نقش رستم کی یو لفظ (ابگان) شته . د دریم شاپور په وخت کی یو قام (اپاگان) بلل شویدی.

هیون څانګ ... په لړ کی یو قام د ( ای، پی، گان ) په نامه یاد شویدی. په بهرت سمهیتا کی هم د افغان لفظ راغلی دی. د حدودالعالم مصنف هم د افغان لفظ د قام په معنی راوړی دی. ابن بطوطه او په ده پسې فرشتی بیا بیا د افغان کلمه ذکر کړیده.

ښاغلی ظفر وایی: زما فکر دادی چه افغان، اوغان، یا اغوان ددغه قام خپل نوم نه دی. نورو ورته دا نامه اخستی ده. په هر حال دې نامی ورځ په ورځ نفوذ او شهرت پیدا کاوه چې څو په لسیمه عیسوی صدئ کی دا نامه دومره عامه شوه چه البیرونی د اباسیند نه په تمر پریواته خوا تر کابله ټوله غریزه علاقه کی د پښتنو ذکر د افغان په نامه کړیدی، او دا خلک یی د سرکښ او سرتیر په نامه یاد ستایلی دی. د شاه عباس په وخت کی ابدالی قومونه په دې نامه یادی شویدی. بیا وروسته په دی نامه ټول قومونه هم ذکر شویدی. په دولسمه هجری صدی کی د افغانستان د ټولو قبیلو او قومونو دپاره ددی لفظ اطلاق شروع شو. دا لفظ افغانی، هندی اوایرانی لیکوالو په خپلو تالیفاتو کی په وسیعه معنی او کثرت سره راوړیدی. ابوالفضل او خانجهان لودی افغان د ټولو پښتنو قومونو دپاره ویلی دی.

د افغانستان کلمه د پښتنو د مسکن په ډول په اول وار په ٦١٨ هجری کی سیفې هروی د هرات په تاریخ کی راوړیدی. دی وایی: (....... تا اقتصاد افغانستان وروړد آمو به سلطان غیاث الدین کرت مقبوظ کرد)

تر دې پس عرالرازق په مطلع السعدین کی د افغانستان نوم یاد کړیدی.

بابر په ۱۵۰۴ هجری کی د پښتنو ژبی ته (افغانی) ویلی ده. او ټول پښتانه قومونه چه هغه یوسفزي دی که گیگیانی ، اپریدی دی که بنگښ، دله ځاک دی که وزیر یا بنوڅی بی له فرق او امتیاز نه د (افغان) پهنامه یاد کړیدی.

خلاصه دا چه ټول پښتانه د پښتون ، افغان او پټان په نامه کی یو شان شریک دی. بیلتون نه لریا. په لسمه یوولسمه هجری پیړئ کی د ټولو هستوګنو د اصلی او تاریخې (پښتون) په ځای ملی نوم وګرځیدو. په دیارلسمه پیړئ کی د افغانانو ټول وطن د افغانستان په نامه مشهور شو، او خراسان له منځه ولاړ.

په تیرو کرښو کی مونږ د افغان د کلمی تاریخ وښود. خو د معنی په باب یی زمونږ ځینی علما وایی چې ( همزه په اپګان کی نافیه ده لکه په (اخون) او (اټال) کی چه مذهبی لارښووونکو کورونه نه لرل. اود ټول قام مشترک (ستانه) په حسابیدل. اود ټول قام خونه به د دوی خونه وه. (اټال) د نه ټال معېر نی ورکوی. ټال ځنګیدا او تګ راتګ معنی لری. خو چه اټال شی، معنی یی معطل او ولاړ کیږی، چه په سنسکریت کی ددی کلمی نه (اټل) جوړ شویدی چه د ابدی، دایم او د غیر متغیر په معنی دی. لنډه دا چه په همزه د نفی دپاره په پخوانی پښتو،

سنسکریت او حتی په عربی کې هم د نفی دپاره راغلی ده. را به شو (ګان) په سنسکریت ، پالی او اوستا کې (ګان) د تګ معنی ورکوی. په پښتو کی همدغه مراد لری. هغه خلک دی چه نه وی تللی او په خپل وطن کی پاتی دی .

پټان هم په اصل کی (په تون) دی. (تون) مبنې ، وطن او هستوګنځی ته وایی چه هم په پښتو کی په همدغه معنی استعمالیږی. نو مطلب دا شو چه کوم ټبر په وطن کی پاتی دی هغه ( په تون په تان او پټان) دی. نو پښتانه هغه خلک دی چه (ښتانه نه په ګام او نه په تون ) دی. اوس دا خبره حل غواړی چه (په تګ ) او (نه تګ) مراد څه دی؟ ددی خبرې بنیاد زرګونو کالونو مخکی عصر ته رسیږی.

مراد دا دی چه پښتون قام چه اوس د ایشیا په منځ کی د ډیرو قبیلو او په صورت ژوند کوی. له آمو څخه تر کشمیر ، لاهور او ملتانه او له ګوادره تر هرات او د پامیر د څوکی نه ور ها خوا پلو پوری پراته دی. له اصلی ځمکی څخه په پخوانیو اعصارو کی د دوی ډېر ورونه، عزیزان او خپلوان په هجرت باندی شمال ، جنوب ، شرق او غرب ته وکوچیدل. خو ځینی یی په خپل وطن ، ټاټوبی او ابایی کور کی پاته شول. معلومیږی چه دغه مهاجرتونه د پاتی ورونو په زړه داغ جوړ شو. دوی ناچار وو، نه پخلا کیدونکو عزیزانو ته یې وویلې، (مه ځی، پاتی شې، ښه او به په ګډه تیروو) خو چه و نه شوه او ولاړل، نو ددغه تاریخي فراق یاد په دغو کلمو کې وساتل شو چه ( مونږ پښتانه یو. نه ځو. وطن نه پریږدو. او په وطن کی اوسو !!!) یعنی مونږ د خاورې او ځمکې وفاداران یو.

ښه وی که بده ، دا مو وطن دی. دلته مو ژوند دی. او دلته مو مرگ ! په دې کې تلليو، جلاشويو، يا په بل عبارت تبنتيدليو عزيزانو ته پيغور او طعنه هم ده !

له دې تحقيقه ثابتيږي چه افغان او پټان سوچه پښتو کلمې دي. د پردو له خوا نه دي. په تاريخ کې پښتانه د ( پوتا ) په نامه هم ياد شويدي خو ډېر اهميت نه لري. ځکه پرې نه گړيږو.

دريم باب: د پښت انشعاب

د پښتنو له تقديراتو څخه يوه داده چې په څلورم اقليم کی يوه داسې ځمکه د دوی په نصيب شوې ده چه د معتدلې او ډيرې ښې هوا، فصلونو، پيداوار او د ښه صحت دپاره مساعده ده. دې ته د دنيا بام وايي. لوی لوی قومونه دلته پيدا شوي، لوی شوي او له دې ځايه په دنيا خپاره شويدي. دا ځمکه د زړې دنيا (ايشيا) زړه دی. ددې ساحې نه چارچاپيره روسيه، ايران، عربي ممالک، هند او چين واقع دی. له هرې خوا څخه د لويو متهاجمو قومونو د يرغل مور گرځيدلی ده. چا دلته د ژوند اوبه لټولې، څوک يی د شاتو او شودو د ډکو ويالو ليواله، د چا يې حسن، ښکلا ، طبيعی مناظر خوښ وو، او چا ور باندې لاره غوښته. خو په قدرتي لحاظ د هجومونو ، يرغلونو او بد امنۍ سره مخامخ وه. هر ځل چه دلته يو تمدن عروج ته رسيدلی دی، يو طوفان ورباندې راغلی دی. او د تمدن ټول سامان يې وړی دی. د نوح د طوفان نه بيا د فزيک تر طوفان پورې يې که حسابوومضمون به ډېراوږد شي. د اروپا د رنسانس څخه تر اوسه پورې چه د شعور زمانه ده ، پښتنو ته فرصت په لاس نه دی ورغلی چه په ځان او جهان فکر وکړي. بيدارې

دنيا دا ځمکه او د دوی اهميت پيژاند. مگر پخپله د پښتنو دنيا غافله، يا وساتلی شوه. زمونږ د علم، قلم او تمدن اثار دنيا ته لاړل، او مونږ له دنيا څخه بی خبره وساتل شوو. د ريشيانو، ژند اوستا : څخه د لرغونی پښتانه او تاريخ سوري پوری زمونږ په لاس کې هيڅ نشته.

زمونږ د تاريخ په باب زمونږ په لاس کی، زمونږ د خپلو لاسونو نښې نه دي پاتې که د خپل ځان په باب د نورو قومونو ليکنو ته رجوع کوو، هغوی د خپلو مطالبو دپاره ليکلي دي. ولې بيا هم د علم د تقدس په برکت د حقيقت څرک ور نه لگيدلی شي. د پښتون عظيم قام د دنيا د ټولو لويو قومونو سره د حيات په مجادله کې کړس پيښ شويدی. هوښيار قومونه سوونه کاله مخکې فکر کوي. مگر را گيرشوي او ړانده شوي قومونه که پوه شي، خو هم څه کولی شي، خو محاصره

ماته نکړي. مدعا مې دومره قدر ده چه د پښتنو د تاریخ په باب د شرق او غرب دا موجوده لټریچر خو د تحقیق او د قت وړدی. مګر نه د باور او اعتماد کولو !

د پښتنووروستنی تاریخ او نسب نامې عربو له قیس عبدالرشید نه شروع کړی. او ځینی نورو د عربو په تقلید دا درت ښه ضبط کړی دی. مګر قیس عبدالرشید د محقیقینو په اند د کوم فرضی شخص نه څه زیات قیمت نه لري. عربو دا کار ځکه کاوه چه هغوی د اسلام سره دې ځمکې ته راغلي وو. اود قیس نه مخکې ټول پښتانه کافر وو. دوی د مسلمانانو او د اسلام د تاریخ سره کار لاره، نه د کافرو، مشرکانو او بت پرستانو سره !

نو که مونږ اوس د تاریخ په تحقیق سر خوږ.وو، نو ښايي چه د تاریخ تسلسل او لړئ سمه کړو، نه دا چه د کوم خاص دین یا ایډیالوجی له مخې روزنامچه ولیکو.

د مخکنی پاڼې له لوستلو څخه ( پښت ) د تکوم تاریخ د ژورو تحقیقاتو له مخې ډېر وړاندی تېرېږي! نو اوس هر سړی پخپله پوهیدی شي چه د قیس عبدالرشید افسانه یو روایت دی. اصل حقیقت بل شی دی.

د حقیقت د لټولو دپاره ډیرو پاڼو اړولو ته ضرورت دی.

د سهاک اصل او نسب:

په تاریخ کې د غوریانو سلسله ملک شنسب ته رسیږي. زمونږ محقیقین وايي چه شنسب یو صفتی نوم دی. د شین اسپ د خاوند په معنی چه دا نوم د باختر د اسپه کورنۍ په مناسبت اینودل شویدی. د شنبس کړی د (د سور او سام) پورې تړلي ده. د سور او سام نسب ( ملک سهاک ) ته رسیږي. ملک سهاک هماغه شخص دی چه د (جمشید) معاصراو انډول ښودل شویدی. جمشید لکه چه باختر او توران دواړو حکومت کاوه. مګر د سهاک چه (ځینو سهوا د سامی ضحاک سره ملتبس کړیدی) کوم وخت چه پر جشید غالب شو، مرکز یې په بامیانو کې ونیو. لکه چه همدا اوس هم د سهاک د ښار کنډوالی په بامیانو کې لیدل کیږي.

ملک سهاک د بیور اسپ په لقب هم ستایل شویدی. (بیور) زرو ته وايي. او ده ته به تل زر تکړه اسونه تیار ولاړ وو. طبری، ابن ..... او ابن خلدون وايي چه بیو اسپ د اروند اسپ زوی عربو سهوا ضحاک بللی دی. دده خپل نوم ددغه وخت په ژبه او تورو بل شان ؤ چه عربو ته د هغو تورو تلفظ مشکل ؤ. نو ضحاک یی

تری جوړ کړ. مونږ چه تامل کړیدی دغه سهاک چه مونږ ته را رسیدلی دی، اصلا په هغو اریایي تورو چه عربو مورخینو ورته اشاره کړیده (ځښاړ، یا زښاړ) ؤ. زما په عقیده به اصل کلمه (ځښاک یا څښاک ) وي. یا په دغه لومړی دوه کلمی د دوه وروستیو کلمو معنی ورکوي. د ځښاک معی (ځښل) اود څښاک معنی به (څبیښل) وی. دغه ځښل او څبیښل هرومرو (هوما سوما) ته راجع دی. او دغعه مشروب د (جم او سهاک) په وخت کی موجود ؤ، چه ( جم جام ) په همدغه مناسبت شاعرانو شرق او غرب ته رسولی دی.

د سهاک له اولادې (نریمان او بستام) مشهور دی. په بامیانو کی د سهاک د ښار یوه برخه اوس هم د نریمان په نامه یادیږي. بستام او سهاک له خوا پر هند حکومت کاوه. پخپله سهاک ډیره زمانه پر اریانا او ایران واک چلاوه. بیا د فریدون له خوا و ایستل شو. بستام ماتتی وخوړه. او بیا چه فریدون په ایران کی د مخالفتونو سره مخامخ شو نو بستام په بامیانو کې واکمن پاتی شو. لنډه دا چه د غوریانو ، سوریانو، لودیانو او غلجیانو کورنئ، قومونه اوټول سهاک دي. او دا ټول د سهاک له ټبره دی. ښه نو که پښتانه ټول یا نیمایی ملک سهاک ته رسیږي او سهاک د جمشید سره تړون لري، بنو باید څه ووایو چه جمشید څوک دی؟

( د جم ، یم، یما، ویما ، هوما ، سوما) دا نومونه یو پر بل پورې تړلي نه دي څه؟ مونږ کله ویلی دی چه ایرانیان له مونږه پردي دي. خو دومره ده چه هلته لویه ژبه فارسي او دلته لویه ژبه پښتو ده. نور خو دواړه ملتونه د یو بابا او یوې ادې زامن دي.

د غلجیانو په الحاق به په سهاک پوری ځینی کسان وتوریږي. مگر لږ تامل په کار دی. غوری له غور څخه جوړه شوې کلمه ده. غور د ( غر) یوه لهجه ده چه اوس هم موجوده ده. دا رنګه ( غلجی غلځی ) کی (ل) د (ر) په بدل راغلی دی. نو (غرځی) (غرزی) پاته شوو. د (ځی ) کلمه ، د (ځوی او ځای) دواړو دپاره یو شان راغلی ده . همدارنګه د (جای ځای) اوس هم مترادفی کلمې دي. نو د (غرځی) په اسانی سره په (غرځی ، غرزی ) اوړي. نو معنی یی شوه د (غره زوی) یا د غره د د ځای اوسیدونکی. نو په دغه تحقیق سره (غوری، او غلجی) یو شی نه دی څه ؟ هغه خلک چه په پښتو پوهیدل، په مونږ پسې یی یو عالم جعلی قصی جوړی کړې دی. چه د تحقیق له مخې .... نه درځی.

رشتیا داده چه ۰ غلجه غرجستان، غرجو خلج، خلجی ) او داسی نور د غره مشتقات دي چه په همدې وطن او خلکو تعلق لرینه په بل چا. ځکه داخلک په دې ځمکه له هغه وخته اوسیږي چه تاریخ یې زمانه نشی تعینولای.

د سهاک بابا په نسب نامه کې مورخېنو لیکلي دي: بیور اسپ د اروند اسپ زوی چه هغه د توخ او هغه بیا کابه اکو هغه بیا د نوح زوی دی. خو ځینی وایي چه په بیور اسپ، بن اروند اسپ ، بن زنبکا، بن تازیو ۰۰۰۰ بن تراول، بن سیامک، بن پشی، بن کیومرث بن ادم ع. په دغه نسب نامه کې د (توخ، نوم راغلی دی چه همدغه د اوسنی زمانې توخي دي. توخي په غلجو کی یو لوی او مقتدر قام دی. کیومرث نن سبا د ( گومرد ) په تلفظ د (شپون بادشاه) په عنوان تصدیق شوی او په سغدیانه کې یې مجسمه موندل شویده. دا مجسمه د غویي او بنیادم له ترکیبه جوړه شویده. مدعا داده چه د کیومرث ټوکه نن پټاکه شوه. او د همدې خلکو د تاریخ جز وگرځېد چه تر اوسه د منځنې اسیا په غرونو کې په سر لوړې سره په مالدارۍ او په زراعت لگیا دي.

تر دې ځایه مونږ د پښتنو د قومونو او ټبرونو په باره کې خبرې وکړې چه غور یا غره ته منسوب دی. اوس به په هغو اماکنو او ولایاتو وغږیږو چه نومونه یې د (غر) له کلمې جوړ دی. اول باید دا ووایو چه په (غور ) کې کوم کوم ځایونه داخل دي.

اول: غور هغه ځمکه او علاقه ده چه هرات، غزني، فراه ، کندهار، کابل، پروا، بلخ، میمنه، بادغیس ورنه چارچاپیره پراته دي. د اریا ویجه او بخدی څخه وروسته دا د پښتنو دریم مرکز دی. تر دې وروسته یی څلورم مرکز غزني، پنځم یی ملتان او شپږم یې ډیلی ؤ. دلته ما نوي او مهم مراکز وښودل چه عصر او دوره ورسره بدله شویده. که نه نو واړه او فرعي مراکز بیخي ډیر دي.

غور ته منسوب ځایونه:
دویم: جاغوري: کلات ته مخامخ په غرونو کې د غوریانو پخوانی مرکز دی چه (جاغوري ) یی بولي ، یعنی د غوریانو ځای.

دریم: غورک: د خاکریز په ولسوالۍ کی یوه علاقه داري ده.

څلورم : غوریزی: په پیښور کې یو کلی دی. دا هم د غوریانو زامن دي.

پنځم: غورياخېل: د پښتنو د يو لوی قام نوم دی چه حسين بخش کوثر ورته منسوب دی.

شپږم: غوربند: هغه دره ده چه سرک په کې شېبر ته تللی دی. په دې کی اوس هم شينواري او نور پښتانه قومونه اوسيږي. ځانته ولسوالي لري.

اوم: دهنه غوري: په پلخمري کی يوه لويه علاقه ده. د سره کوتل کتيبه همدلته پيدا شويده. د غور د غرونو شمال شرق ته لګيدلی ده.

اتم: غورماچ: په هرات کې د يوې علاقې نوم دی.

نهم: غوريان: د هرات يوه ولسوالي ده. غوريان هغه پښتانه تېرونه دي چه علاوالدين، غياث الدين او شهاب الدين ورته منسوب دي. دا هغه کورنۍ ده چه غزنويانو ورسره مبارزه شروع کړه. خو په اخر کې غزنويان د غوريانو د لاسه ورک شول.

لسم: پيش غور:

د پنجشير په سر کې يوه علاقه ده. داځمکه رشتياد غور په مخکې پرته ده. پورته ور نه غور پروت دی.

يوولسم : ساغر: د يو غره نوم دی دلته هم خلک اوسيږی. په مرکزی غور کی واقع دی.

دولسم: سپين غر: سپيتا ګوناګری : هر چا ته معلوم دی. چه د ننګرهار او د اوسنی پکتيا تر منځ واقع دی. بر سر ته يی غزنی دی. او کوز خوا کی يی ښکلی تيرا لګيدلی دی. يعنی د سپين غر بر سر غور او لر سر يی اباسيند ته لګيدلی دی.

ديارلسم: جبل الزور: د سوری غر عربی نوم دی. دا غر هم په مرکزی غور کی دی. يعنی د سوريانو په نامه شهرت لری.

څوارلسم: تور غر: هغه +++ سيمه له لغمانه بيلوي. په دې غره کې د ببېټ بابا په نامه زيارت هم موجود دی.

پنځلسم: سياه ګرد: د يو ځای نوم دی چه دا کلمه په اصل کی له (سياه غر) نه جوړه شويده.

په دغه شاند اباسیند نه تر آمو پورې ډېر نومونه دی ټول مې په یاد نه دي.

ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی‌ی

غوریزی: په کامه کی د شېرګړ په قریه کې د یوه کلي نوم دی چه شمال ته یی کلاګی (قلاګی) اود لودییو کلی دی. لویدیځ ته یی کګل او باجوړی دي. ددغه کلي اوسیدنکي ټول لودین دی. ( دولت محمد لودین)

ساک ټبر: وایي ساک زر کاله مخکی له میلاده او زرکاله وروسته له میلاده په دوه زره کلن تارخ کی د تورې بحیرې نه د هند د ګوجرات،+++ او د پامیر د لوړو څوکو نه ور ها پلو کاشغر، خوتن، تیان شان او د سایبریا د فلات له منځ نه د شط العرب اود هند د دریاب پورې په دی ټوله ځمکه خپور پروت ؤ. په شمال کی تر والګا رسیدلی وو. داساک هماغه ساک دی چه په پنځه زره مخکی تاریخ کی یی نوم د جمشید سره یو ځای یاد شویدی. خوهلته د شخص په نامه او دلته روسي منابعو د قام په نامه ښودلی دی.

روسی منابع وایی چې د ساکو اصلی هیواد افغانستان او د ایندوکوش خواو شاوی دي. بیا له ځایه ، خپلو رمو، +++ خپاره شول.ډېرشول، او د حکومتونو ، امپراطوریو په جوړولو موفق شل. خو یوه برخه نور قومونه یی د (مرکزی آریایانو) په نامه په خپله اصلی خاوره پاته شول. کوم ساک چه په خپل مرکز پاته شول د مرکزی اریایانو یا د باختریانو په نامه د پارتیانو، سوغدیانو، خوارزمیانو او نور سره ګډ اوسیدل. (۱)

یا په بل عبارت په مختلفو قبیلو ویشل شوی وو. یعنی یو ټبر ؤ خو تاریخونو کی ورته سه، سک ، سای ، سیت، سیک، سی وانګ ، ساکاهیګراخاودا ، تیر خولی ساک

ساکاسوما، سوما جوړونکی ساک

ساکا تیری پاراسوغداد ، د پورې سغد نه ور تیر ساک

ساکا ترای پارادریا، د سیند پورې څخه ورتیر ساک

کابل مجله، ٦٢٠ د روسی منابعو په حواله . د دوست شینواری لیکنه

شاکه، سکیت، کوت وای، اشکوزی، سیتی ، سکایی، سهک ، شکانی، اهی، ازی داکا، توریا، ځښاک، څښاک، ساس، سګزی، سګه ها، سهاکزی، اسحاقزی او داسې نور.

په ساکي نومونو لږ بحث:

یو نوم هغه وخت عمومیت او شهرت ته رسیږي چه ورپورې حوادث، انقلابونه او هنګامې مربوطې وي. خو کوم نوم چه د زرګونو کالونو انقلابونه او تحولات ورته منسوب وي، او په ډیرو نوو لهجو او ژبو کې واوړي را واوړي حتما تغیرونه پیدا کوي. لکه سهاک نوم پخوانیو مورخینو په دغو نومونو کې (سیتی) کلمه اساس نیولی ده. په سیتی کی یی ساک، اسکایی، تخاری، کوشانی او یوچی شامل کړي دي. خو نوو تحقیقاتو چه په دغو کې د مسکو د اکاډیمی علما تر نورومخکی دي، دوی (ساک، سهاک) اصلی کلمه ګڼي او سیتی، سکایی ، یوچی، تخار، کوشاني او داسې نور د ساک پښې او څانګې بولي. زه پخپله هم په دې عقیده یم چه ساک ، یا سهاک کلمه اصل ده. ځکه چه ددی کلمې څرک ډیر وړاندی لګي.

زمونږ محققین وایی چه دله ځاک په اصل کې (ډله سهاک) ؤ او دا لوی قام د ټولو څانګو او پښو سره په ساکو ګڼیږي. په پورته نومونو کې یو (ساس) دی. چه جمع شي (ساسان) کیږي چه نسبتي (ی) ورپورې شي، (ساسانی) کیږي. او چه بیا جمع شي بیا (ساسانیان) به شي. په تیرو نومونو کې (خاودا، خود) (تېرای، تېر) (پارا، پورې) ( توریا ، تورې) (سیک، سکه) (سهاکزی، اسحاقزی) دا ټول پښتو او مشهور نومونه دی. تېرې او نیغې خولۍ تر اوسه په پښتنو کې رواج وې. سوما او سوبا خو د باختر خاصه ده. دوی ږیری پریښودې. تېرې خولۍ یې په سر کولې. پراخ کمیس پرتوګ به یې اغوستل. غشی اولیندۍ یې دایمي ملګري وو. او د یو ګرځند ښار په ډول یې کراچۍ لرلی چه دا ټول څیزونه په پښتنو کې موجود وو او دي.

ساکی قومونه په تاریخ کې:

ښاغلي کهزاد د افغانستان د پخوانی تاریخ په دوهم جلد کې ساک د اسکایی عنوان لاندی راوړی او سته یی ورته سیتی ښودلی ده. (۱۳۷) وایی چه سیتی د هند له اروپایی قبایلو له څانګو څه یوه څانګه ده چه د نورو نه ډیره موده وروسته د تاریخ میدان ته را وتلی او مشهوره شویده. د هند اروپایی د لویی کورنۍ دا ټبر په

اول سر کې د هند اروپایی نورو ټبرونو سره به (اریانا ویجه) کې چه د اریایی قومونو لومړی ځانگو وه، د اکسوس د پورتنی حوزی او سر دریا تر منځ اوسیده. کوم وخت چه په اول ځل د هند اروپایی قومونو لوی مهاجرت د غرب او د جنوب خوا ته شروع شو. نو د لاتین، سلت، جرمنی او سلاو قومونو د اروپا خاوره ونیوله. کوم خلک چه د جنوب خواته را روان شوی وو، په سغدیانه او اروپا خاروه ونیوله. کوم خلک چه د جنوب و خواته را روان شوی وو، په سغدیانه او باختر کې پاته شول او باختری کتله یې تشکیل کړه. دغه وخت د کهزاد په قول سیتی او د روسی منابعو په اصطلاح ساکی ټبر ځای پر ځای څه زمانه په خپل اصلی ټاټوبی کی پاتی شو.

هغه خلک باختر ته راغلی وو، خپل ځان یی اریا اوخپل مسکن یی اریانا و باله. دغه ساک چه په اریاویجه کی پاتی وو، وروسته دوی په حرکت راغلل. ځینې د اورال غرونو ته خپاره شول.

بله برخه یی د سردریا د سر دریا پوری د کاشغر علاقی ته ور ننوتل، او له هغه ځایه یی ټول شرقی ترکستان د کونجی قبره چار او توین هوان دی تر کانسو پوری اشغال کړی او د چین د خاوری سره یی ټکر وخوړ. د غرب پلو ته د تورې بحیری او د خزر شمالی ځمکی یی ونیولی. د اورال د غرو پوری مخکی ولاړل. اود شرقی اروپا د ځمکو سره و لگیدل. د روسیی جنوب د دوی په نامه ( سیتیا ) وبلل شو. دا ځمکه چمني او وښیانه ده.

د ساکو دا حرکت نه دی معلوم. څه و خت ؤ خو دا معلومه ده چه ددی حرکت نه مخکی هم ساکی قبایل یو خوا بل خوا تللی وو.

له دې تاریخه د مخه د ساکو وجود په اروپا او باختر کی لیدل کیږي.

دغسې به شرق ته هم تللی وي. همدغه قبایل څو څو کرته بیرته د سر دریا حوزی او باختر ته راغلی دي. ځکه ځینې مورخینو چه په اشتباه کی لویدلی، د ساکو په اصل کی گډې وډی نظریی وړاندی کوی. هو، دومره چه دوی په دغه شرقی ځمکه کې سوونه کاله عمر تیر کړی دی.

دغه سهاک یاسیتیان له ۱۰۰۰ ق م نه تر ۳۰۰ ق م پورې د تیان شان څخه تر اورال پورې په دغه ساحه مسلط وو. دوی خپل خاص تمدن هم درلود. د (چمنی امپراطوری) یې بلله. په کراجیو کی د سیار ښارونو په شان گرځیدل. دشرق،

غرب، شمال او جنوب مدنيتوننه يې تهديدول. باختر ، ايران، روسيه ، چين او اروپا ورنه په عذاب وه. قالينې، د سپرلۍ او جنګي الات يې دارايي وه. کوم وخت چه باختريان زردشتي دين ته واوښتل د دوی مخالفت ور سره زيات شو. ژند ورته ،. (توريا، توران) ولی دی

زردشت سپينتمن د دوی په جنګ کې شهيد شويديم عيا په هغه ځای کې چه اوس يی د سخی زيارت بولی .

وايی چه کوم وخت دوی له اصلي ټاټوبي څخه د غرب خوا ته وخوځيدل، ښميرېان يی د روسيی د چمنی مناطقو څخه بی ځايه او په مهاجرت مجبور کړل. ددې حادثی څخه اټکل کېدی شی چه د دوی حرکت شپږ اوزره کاله مخک تر دی ؤ. هغه سيتيان چه د سنکيانګ او کانسو خوا ته تللی وو، ۳۰۰ کاله هملته پاته شول.

ساکي نسل او قبيلې:

دا خبره د انکا او اشتباه وړ نه ده چه پارتيان د پښت قام يو ښاخ ؤ: ( ساکا او پارتيان د سيتی قبايلو يو ښاخ و.) (د ظفر نښانه ص ۲۲۰) معنا يی داده چه ( ساک او پارتيان د يو قام دوه قبيلی وې. او پارت خو په يقينی صورت پښتانه دي. نو د ساکو نسل پخپله معلوميږی. ) د افغانستان (سيستان اوسجستان ) د دوی له نامه جوړ شويدی. ساکان د پارتيانو په شان سوارکار، بهادر او شجاع

خلک وو. ( پهلوا) د ساکو په نامه يادیږي. يعنی ساک او پارت خويو قام دی. او پهلوا له دغه قامه را وتلی شاخ دی. ( پهلوی ) د پهلوا نسبتی صورت دی.

ښ کهزاد د خپل کتاب ( د افغانستان د پخوانی تاريخ په دريم جلد کی ۱۳۸ مخ کی ) د ساکانو لس قبيلی ذکر کړيدی. له دغو څخه سرمت، مساجت، ازی يی، پارتی، تخاری ، ساکارولی ، يومچی، امورګی ساکان، اسکايی ، کوشانی ، کوچنی يومچيان، لوی يومچيان، سی، د ذکر وړ دی. ځينی قبيلې دی چه نومونه مخکی راغلی دی، دلته نه ذکر کوو.

ددغو قبيلو لړه معرفي ضروري ده:

تیان : د ساکو هغه قام دی چه په ۴ق م پیړیکی د اورال د غرو په لمن او د اورنبورگ او (پردخوروکا) په علاقه کی بې شهرت درلود. ددی قام سرې په نیمایی کی سرمتیان د والگا له سیند څخه پوریوتل. او نوری ساکی ځانگ یی د کریمیا و خوا ته وشړلی. د والگا په نامه د والگا گراد ښار موجود دی. کریمیا د تورې بحیری په شمالی څنډه یوه جزیره ده. مخروطی خولی ، لپندی غشې ، نیزی، تبرگی، د سپینو اوسروزرو گاڼې او سامانونه ، زغزی ، کمربندونه ، د نورو ساکانو نشان ددوی امتیازی علامی وې.ځینی له دغو شیانو څخه د غربی سایبریا نه لاس ته راغلی او د لوی پطر(پطر کبیر) په خزانه کی خوندی پاتی دی. د هغو جمجمو او ککریو څخه چه په مرکزی سایبریا کی پیدا شوې دي د نورو ساکانو سره د دوی نژادی قرابت ثبوت ته رسیدلی دی

مساجتیان: د مساجتیانو وسلی، گاڼې ، سامانونه او کالی د نورو ساکانو په شان وو. د سروزرو سره یی (زیړ) هم استعمال کړی

د سروزرو بازوبندونه اوهیکلونه یی ښکاره دي. مساجتیان د آمو په شمال کی د سر دریا له لوری څخه د کسپین تر شماله پوری، دوی دغه لویه او پراخه سیمه نیولی وه. د سیروس ++++ له راتگه مخکی د خپل دود سره سم اداری نظام اوبادشاهان لرل.

سیروس د دوی وبللی، : (تو مېریس ) سره وجنگید. او وایی چه په همدغه جنگ کی مړ شو. وایي چه ماجتیان اوسر متیان بیخی یو شان وو.

اسکایان: اسکایان هم ډیر شهرت لری. تر دی چه دا نوم د عام نوم مرادف گرځیدلی. یعنی دسیتی پر ځای استعمالیږی.

(د کهزاد قدیم تاریخ ۲ جلد، ۱۳مخ)

ځلور قبیلی: اپولو دوروس، گاوتبروگوس له لیکنو څخه معلومیږی چه ځلور مالدارو او پووندہ قومونو د یرغلونو او تاړاکونوپه واسطه یونان باختري سلطنت د ایندوکوښ په شمال کې سقوط وکاوه. دا ځلور قومونه، ازی یی، یازیانی ، تخاري او ساکارولی وو چه دا قومونه ټول ساک دي.

یوچی: یوچیان د ټولو ساکي قومونو خورا شرقي قام دی چې د شرقي ترکستان او د تارم له لوري تیر شوی، د کونجی ، قره چار او کانسو (چین) په ناوو کی اوسېدل. د خپل ټاټوبی سردریا څخه په اول وار بېځایه کیدو له وخت تر هغې زمانې پوری چه بیرته د امو دریاب شمال ته راغلل په همدغه نامه یادیدل. کوم وخت چه له امور دریا پوریوتل، له تاهبانو سره ګډ شول. سلطنت یې تشکیل کړ، بیا د (کوشان) په نامه مشهور شول.

دامورګي سکایان: د یونانو باختري حکومت له سقوطه وروسته د ساکانو یوه قبیله داموروګي سکایانو په نامه زرنج یا درانجیانا ته راغلل او د اغلبا (سیستان ) د همدوی په نامه دی. د ساکانو د بیرته راتګ او په باخترکی د مېشت کیدلو لوی علت د یونانو فشار ؤ چه یوچیان یې د یو ملیون په تعداد له کانسو څخه چه د چین په خاوره کې یو ولایت دی را په تیښته کړل. ددغه بیځایه کیدو څخه په نورو قومونو هم فشار راغی او یو لوی اغتشاش پیدا شو. هونان چه مغول وو د چین او یوچیانو دښمنان وو. نو په یوچیانو یا د دوی په څو ځاث د یفتلیانو یا ترکانو ګومان کول او هومان کابل یوه داسې لویه ګناه چه تلافی نه لري.

تحازیان تارن مورخ وایی چه مخکې ذکر شوی ازیی او پازیانی چه کله ازیانی هم ذکر ششوی دی، دواړه یو شی دی. تحاز د ساکانو یو لوی قام دی چه زیات شهرت یې او اهمیت یی موندلی دی. تر دی چه ځینو تحازی د ساکا او سیتی مرادف ګڼلی دی. بطلیموس د (تګوروا) قام نوم یادوی. دده د معلوماتو له قراره د وریښمو د لویی لاری پر سر یو ښار ؤ د (توګارا) په نامه موجود ؤ. د چینیانو منابع وایي چه د توګارا له بقایاو څخه په دوهمه ق م پیړئ کې په کانسو کی ځینی قومونه موجود وو. تبتی مضامین درک ورکوی چه د کانسو په شاخوا کی دغسی نوم وجود درلودم. ځینی اسناد دا هم وایی چه په کانسو کی یو ښار د (توګارا) په نامه موجود ؤ. له دغو اسنادو څخه لاس ته راځی چه تحازیان یعنی د سیتی یا ساکی قومونه یوه څانګه هم د یوچیانو په شان تر کانسو چه خورا شرقی برخه ده رسېدلی او په شا شوی وه. تحازیان د منځنی اسیا د قومونو د خوځیدا ، یرغلونو او هجومونو په سبب چه مخکی ورته اشاره وشوه، او لوی علت یی د (هومانو) تعدی او تیری ؤ. د یوچیانو سره یو ځای د غرب خوا ته راغلل چه په پای کی د امو دریاب جنوب خوا ته پوریواته. اود امو دریاب پورتنی حوزی ځمکی د دوی په نامه (تخارستان) تلل شوی. د منځنیو پیړیو تر اخره پوری دا نوم باب ؤ ، اوس بیا نایاب شو.

وایي چه تحازیان د پخواني ټاټوبی او هم د عرف عاداتو او دود دستور په لحاظ ، تر دی چه د ژبی له مخی هم یوچیانو ته ورته وو. وایي چه د یوچیان سره یو ځای را وکتیدل. . هند ی منابعو یوچیان د تحازیانو په نامه بللی دی. ( د کهزاد، پخوانی افغانستان اول جلد ۱۴۷مخ )

بطلیموس د کانسو په ولایت کی د ( تاگوروا ) او د ( ایاوس ) په شمال کی د (تاگوری وا) او د ایسک کول چړ ته نزدی

( تاگوریودا ) او په سغدیان کی له ( تاخوروا ) څخه بحث کوي او نومونه یی یادوی. هرکله چه یوچیان کتې متې له کانسو څخه تر باختره په همدغه لار راغلی او طی کړی یی ده، نوځینی چینی منابعو یوچیان او د یونانی منابعو تحازیان یو شی گڼلی دی. په هر صورت یوچیان او تحازیان یو شی دی. او که تحازیان د یوچیانو قبیله وي، دا خبره یقینی ده چه (تحازیان ساک دی.) او د یوچیانو عزیزان دی.

زه دلته یو استنتاج کوم او هغه دا چه: د ورپښمو د لارې په سر د (توگارا باید په انگلیسی هم ولیکل شی هر کله چه چاپیږی ) ښار، او دا رنگه (تاگوروا) مقام یا قام چه بطلیموس ورڅخه بحث او یادگیرنه کوي کوم ځای او څوک دی؟

باور وکړی چه دغه (توگارا) او (توگاروا) باندې چه هرڅومره بحثونه وشي، خو په اخر کی به بې له (تگاوه) بل ځای او بل قام نشي! د تگاو پښتانه د (ساک سهاک بابا ) سکنی ځوځات دی.

سکارولی یا ساروکی: دغه قام هم د ساکو د نورو قامونو ، تحازیانو او یوچیانو په شان د ق م په دویمه پیړی کی باختر ته راغلی او خپاره شویدی. د بطلیموس له قوله او د چینی تحقیقاتو څخه چه کومه نتیجه لاس ته راځی داده چه د اسکایانو د هستوگنی لومړنی ځای او مسکن ..... سردریا او اکسوس تر منځ حوزه ده.
سکارولیان د تحازی اویوچی او نورو قومونو د فشار له کبله له دغه ځایه څخه ورو، ورو د جنوب غرب په لور فرغانې ته را کښیوتل. دلته یی یوه برخه باختر ته پوریوته، او بله برخه یی د امو د ښئ غاړې په اوږدو کې مروې ته لاړه او د سیند له دواړو خواوو څخه د پارتیانو سره مخامخ شوه. په فرغانه کی پراته ساروکی د یوچیانو د فشار له کبله د ځای په بدلولو مجبور شول باختر ته راغلل. دغه وخت

یونانو باختری حکومت د ایندوکوښ په جنوب کی ؤ. دوی په ایندو کوښ تیریدل لازم و نه گڼل. نو غرب ته یی مخه کړه. او د اریا (هرات) منطقه یی په (۱۴۰ ق م) کی ونیوله. دغه وخت د اسکایانو او پارتیانو تر منځ سختی نښتی وشوې. په دغه شان له میمنې څخه تر هراته د غرب لور ته د دوی مخه د پارتیانو په واسطه بنده وه. نو د جنوب و لور ته د هلمند په حوزه کی خپاره او میشته شول. تازه راغلی سکایان د مخکینیو امورگی سکایانو سره سره یو ځای شول. له څه رنگه چه د امو پورتنی حوزه د تحازیانو په نامه (تحازستان) وبلل شو. د هیلمند حوزه چه تر دی وخته راکیانا بلل کیده ، تر دی وروسته دا اسکایانو یعنی ساکانو په نامه (ساکستنا) .... مسمی شوه.

سیستان له (سی) څخه جوړ دی، او (سی) د ساکو نوم دی لکه چه (ساس) یی هم نوم دی. له ساس څخه ساسان ، ساسانی او ساسانیان کلمات جوړ شوی.

لنډیز او نتیجه :

زمونږ بحث د پښتنو په نشعاب کی دی. د پښتنو وړاندی نیکه چه مونږ یی په تاریخ کی پیژنو( ملک سهاک) دی. د سهاک په نامه وران ښار چه دده د امپراطورۍ مرکز ؤ په بامیانو کی اوس هم ځرگند دی. د ملک سهاک پوری د غوریانو، سوریانو، بودیانو، او زما په اند د غلجیانو نسب نامه هم تړلې ده. په موجوده نسب نامو کی لودی او غلجی دواړه د شاه حسین غوری او بی بی .... اولاده ښودل شویده. دغه څلور لویی کورنۍ ملک سهاک ته رسیږي.

ټول پښتانه دی. تر اوسه هم پښتو وايي. د پښتنو تاریخ او د اوسنی افغان او افغانستان دنیا وربانډی ډکه ده. دا تاریخ زرگونو کالو ته رسیږي. لکه چه مخکی مو هم ویلي دی چه د تاریخ له زمانی مخکی دروليي. د سهاکو یوه بله لړی چه د ساکو په نامه معاصرو مورخینو او علماؤ را برڅیره کړیده، هغه له زرکاله مخکی او زرکاله پس له میلاده پوریې اړه لری. په دې دوه زرو کالو کی د سهاکو لویی واکمنۍ (امپراطورۍ) مهاجرتونه ، مبارز، هجومونه، جنگونه او جگړی، یوه لویه تاریخی ځمکه چین، مغولستان، مرکزی سایبریا، د والگا د سیند، کریمیا، توری بحیری، کسپین، تبت، شط العرب او د هند د کاټیاوار، گوجرات او پټنې پورې احاطه نیسي. د دوی د حکومتونو میدان دا ټول مورخینو ضبط کړیدی. ددې خلکو د لومړنی پیداښت او عروج سیمه ده. د روسي علماو د وینا له قراره د ایندوکوښ

دواړه خواوې دی. خو کهزاد صاحب او ځینی نور یی د پیدایښت، تکثیر او شهرت سیمه اریانا ویجه ښیی. اریانا ویجه د کهزاد صاحب په قول د امودریا( د سرچینی او ریګزارت ترمنځ ده ) په غاړه کی ده. ځینی وایی د سیند خو سرچینی پامیر او د ایندوکوښ لمنی دی. نو د ساکو مولد د ایندوکوښ لمنې شوی. چه پښتنی خاوره ده. د ساکو د پیدایښت قصه هم څه عجیبه ده. هیرودوت دا قصه داسې بیانوي چه

(ساکان وایی : زمونږ هیواد وچ ډاګ ؤ . لمړی زل په کی د (ترګینای) په نامه یو سړی پیدا شو چه پلار یی اسمان او مور یی د سیند لور وه. د هغه دری زامن شول. چه مشر یی لورګزی، منځنی یی اروکزی او کشر یی کولکزی نومیدل. دغه وخت د دوی په ځمکه طلایی شیان له اسمانه را ولوییدل. دا شیان (یئوه، تسکوره او کاسه ) وو. دوی چه دغه څیزونه ولیدل، مشر ورور ور وړاندی شو. په دې کې شیان د اور په لمبه بدل شول. هغه ورنه بیرته ستون شو. په دې کی منځنی ورغې. د هغه سره هم همدا پیښه وشوه. په اخر کی کشر ورور ور نژدی شو. هغه دغه اسباب را واخیست. مشران ورونه په مطلب پوه شول. او دی باچا شو.) د سیسل اوسیدونکی چه د بودور مورخ چه د ق م، په لومړی پیړۍ کی تیر شویدی، هغه هم همدغه افسانه په لږ تفاوت راوړی ده . دا قصه د بابا ادم او یا نا قصی ته نژدې ده. په دی دلالت کوی چه ساکان دلته له بل ځایه نه دی راغلی او د دوی نومونه سوچه پښتو نومونه دي. د ساکی اقوامو نومونه او مراکز اوس هم په افغالنی خاوره کی خوندی دي لکه: تخار، تخارستان، کوشان، کوشانیان، سی، سیستان، ساک، ساکستانا، سګه ، سګستان، سجستان.

د یفتلیانو په باب بی فکره خبری ډیری نشر شویدی. اما یفتلیان د نژاد له پلوه د اکثرو مورخینو د وینا له قراره ، د یوچیانو یوه څانګه ده چه مستقیما یا د کوشانیانو په واسطه یوچیان حسابیږی او له دی لارې څخه د ساکو لوی ټبر پوری نښلی. (سیتا اونا، او، شوته هونا) چه سنسکریت ورته ویلی دی او معنی یی سپین هونان، یا خارجی هونان ښودل شویده، سهی ده. د هندیانو په ملاحظه خارجیان وو. مګر د (هونان) ځکه نه شی کیدی چه هونان د یوچیانو مخالف مغولی تکوم ؤ. او یفتلیان ارین او بومیان دی. که څوک دا کوشش کوی چه ابدالیان یفتلیان کړي ، خو یوه خبره ، مګر ابدالیان د یفتلیانو په واسطه( هون ) ښودل لوی ظلم دی چه مونږ یی نه شو

زغملای.

راورسیدو کابلشاهانو ته چه رتبیلان یی هم بولي. داخلک د کوشانو یفتلی لویی کورنی ته رسیږی. نو په دې حساب د سهاکو حکومتونه او امپراطورئ د اسلام تر عصره را ورسیدل. تر اسلام وروسته نوبت غوریانو، سوریانو، لودیانو او غلجیانو ته رسیږي چه دا تاریخ ډیره خفا نه لری.

اوس به وګورو چه په موجوده افغان او افغانستان کی څومره قومونه او قبایل سهاک دی:

په دی باب چه ما کوم معلومات کړیدی د هغو له مخې د غوریانو، سوریانو، لودیانو، غلجیانواو دله ځاکو څخه پرته د کوسین توتاخېل ، مرسه خېل، کوندرخېل، د وزبین میرعلی خېل، د پغمان او میدان اوریاخېل، ابراهیم خېل او ګدایی خېلف، او همدارنګه د کامې ابراهیم خېل، د سره رود خدرخېل، د مکور کلګر، د غزنی اندړ او په یو روایت د کابل تره خېل(توره خېل) له کومو سپین ږیرو څخه چه ما پوښتنه کړیده، هغو ویل چه د زابل او کندهار توخي او هوتک هم دا ټول په سهاکو ګڼیږي. د کابل د شیوکیو بر سر ته د سهاکو لوی ولس پروت دی چه په نزدی غره ورته د خرابو علامی شته. دا خرابی ښایی چه د سهاکو وي.

اوس دی منصفان پخپله انصاف وکړی چه ساکی قومونه څوک دی؟
دا خو د لومړني انشعاب یوه خوا شوه چه پښت نه سهاک بېل شو. تر دی وروسته په بله ډه ډه فکر کوو چه دا ډه ډه (کاسی) دي.

د پښتنو د انشعاب دوهمه څانګه کاسی: د پښتنو په لومړنی انشعاب باندی په تیر بحث کې مو لومړی څانګه سهاک وښوده. اوس یی دوهمه څانګه بیانوو چه دا (کاسی) دی. په تیر بحث کې د ساکو په دوه زره کلن تاریخ کی د عظخت مجمله نقشه وښودل شوه. همدارنګه د (کاسی) نوم د میلاد نه (۱۷۰۰) کاله مخکی تاریخ ثبت کړیدی. چه تر نن پوری د غرونو، دریابونو، قومونو او ملکونو په نومونو کی ژوندی پاتی دی

اول: د لغمان د الیشنګ دری په بر سر کی (کسیګر) د یو ځای نوم دی چه هلته د غره په تړه د سړیو تصویرونه چه غشی او لیندی یی په لاس کی دی، شته . دغلته د غره په تیږو پخوانی لیکونه هم لیدل کیږی. چې څوک یی لوستی نه شی.

دویم: د کونړ د گوریک د کلي نه ور بر (کاشکوټ) دی. کسپګر: کاسی غر او کاشکوټ : کاسی کوټ دی نه بل څه!

دریم: کسپین چه د مشهوری بحیری نوم دی، (کاسی) په کی له ورایه ښکاری.

څلورم: کاسیک، د امو په سر کی د یو سیند نوم دی چه له (کاسی) جوړ دی

پنځم: کسې غر، د سلیمان غره نوم دی چه دلته هم (کاسی) کلمه ژوندی پاته دی

شپږم: قفقاز، چه په اصل کی (کفکاسی) دی د (کاسی) کله په کی له ورایه ناری وهی

اوم: کشمیر، د کشمیر نوم هم د کاسی او میر نه مرکب دی

اتم: قاشقار ، په اصل کی (کاشکار) دی. دلته هم د (کاس، کار) دی چه په اسانی ورنه کاسی گر جوړیږی

نهم: کاشغر، دا کلمه خو پخپله د ( کاسی غر) نه جوړه ده

لسم : کاتی په نورستان د یوی مشهوری قبیلی نوم دی. چه دا هم بلاشکه کاسی ده. دنورستان په لرگینو مجسمو د کاسی په نامه په غوراو د لویی پښتونخوا په سیمو کی ډیر پښتانه شته چه همدا اوس په پښتو گړیږی اوژبه یی پښتو ده.

قیس افسانوی شخص عربو له (کیس کاسی ) څخه جوړ کړیدی. او بیا یی عبدالرشید ور پوری لگولی دی. دا څنگه چل دی چه (قیس عبدالرشید ) عربی نوم دی. اود دری واړو زامنو نومنه یی (سړبن، بیټ، غرغښت ) شو چه پښتو نومونه دی. دا زمونږ د پورته توجیه څرگنده مرسته ده. په دی حساب د پښتنو د موجوده انسابو سړبنیان، غرغوښتیان ، بیټنیان او د دوی د څوځات قومونه دا ټول کاسیان دی

بړیخ ، شنیواری، اورمړ، کند، نومند ، غوریا ، ښخی، کیگیانی، مهمنزی دی ، وتمانخیل ، مومند، ترکانی ، مندړ، یوسفزی ، گدون، منصور او نور ډا ټول کاسیان دی.

د کاسی سټه:

له تاریخی اسنادو معلومیږی چه پښتانه دری زره کاله پخوا یعنی په ۱۰۰ ق م کی په کسی غره کی موجود وو. دا غر د پښتنو جنوبی سیمی له پنجابه بیلوی. کسې غر د (کاسیانو) په نامه مسمی شویدی. خو دا چه دا کاسیان څوک دی او له کومی راغلل؟ په دې باب له جغرافیایی، تاریخی ، لسانی، او ثقافتی تحقیقاتو څخه څرګندیږی چه داریایانو په لمړی مهاجرت کی چه په ۸ یا ۹ زره ق م تخمی کیږی. دغه قام د سایبیریا له لوړوسیمو څخه د خزر د بْحیری لور ته را وخوځید له کومه ځایه چه دوی را خوځېدلی وو، هغه ځای ( کانسک) نومیدو. دغه ځای اوس هم په کانسک مشهور دی. د دوی رواج ۇ چه چیرته به اوسیدل هغه ځای به یی په خپل نامه مسمی کاوه. نو ځکه د خزر د بحیری په غاړه کی چه چیرته اوسیدل هغه وروسته تاریخونه وایی چ دی قام .ځای ته (کاسک ) وایی. او په نقشو کی شته دی د ق م ، په 1745 په خواشا کی د زاغروس یا زاګروس چه نن یی ( کرمان) بولی ، په غرونو کی هستوګنه لرله. اودلته ورسره کوردوان هم یو ځای وو. د ق م پښه (۵۴۱۷ ) کی دوی د خپل مشر ګانداش د اداری لاندی بابل فتح کړ. او تقریبا (۵۷۳) کاله د ودی (۲٦) بادشاهانو له ګانداش څخه تر .... پوری په بابل حکومت کړیدی. بیا وروسته شوریانو او عیلامیانو د دوی سره جنګ وکړ. دا وخت هم کورد د کاسیانو سره یو ځای وو. دغه وخت د شط العرب خوا ته لاړل. تر دی وروسته د دوی تاریخ لړ تت دی.

په ګډه د دوی سره جنګ وکړ. دوی مات شول. داوخت هم کورد د کاسیانو یو ځای وو. دغه وخت د شط العرب خوا ته ولاړل. تر دې وروسته د دوی تاریخ لړ تر لږه تت دی. په ۳۰۰۰ ق م کی د دوی هستوګنه د فارس په ځمکه ثابته ده. دغه وخت جنوبی پښتیانا په دری برخو ویش وه.

اول: له سمتونګ څخه د جنوب خوا چه مرکز یې مکران دی، (جډروشیا)

بلل کیده.

دویم: له مستونګ څخه د شمال خوا، (اراکوزیا) وه.

. دریم: له سیوئ څخه تر اباسینده د سیوستان په نامه یادیدله

په شمالي علاقه کی ټول پښتانه پراته وو. فردوسي دغلته اوغان ، کورد او بلوڅ او (د ټولو ستر ملک کهرزد) په نامه یادوي چه (کهرزد)هماغه د (غلجی غرزي) معنی لري.

د کوټی په علاقه کې چه کاسیان پراته وو د (کند) او د (زمند) قبیلو په نامه بېلیدل چې دواړه لویی قبیلې وې. دا قومونه وروسته کوټې او بیا ژوب ته راغلل. او وروسته د ( کسی سیلمان) غرو په درو کې خپاره شول. او آخر یې په خپل نامه ( کسی غر) مسمی کړ. په پیښورکې له نوښاره پورته د کابل په غاړه د خویشکو کلې معلوم دی. دا خویشکي هم زمند دي.

هیرودوتس په (۰٦۴) ق م کې د اراکوزیا په سیمو کې گرځیدلی، د کسی غره شاوخوا یی د (پکتیکا) او (پکتیا ) په نامه داده کړیده. ددې سیمی خلک یی (پکتان) یا (پکتیان) بللي دي چه د څرمنو کالي اغوستل. او غشي لیندی به ورسره وې. ډیر تکړه او زړه ور خلک وو. البته له دغه قدیم مهاجرته وروسته، نور شیان هم دغه سیمې ته راغلی دي. او د

پخوانو کاسیانو سره یو ځای شویدي. دغه وخت چه څوک د پکتیایانو، پکتانو، کاسیانو، یا فیسیانو په نانه یادیدل سره یو ځای شول. په حقیقت کی دا ټول یو قام ؤ. نومونه یې بیل بیل وو. لکه نن چه پښتانه په ډیرو نومونو یادیږي. دې خبرې د تاریخ پوهانو اولیکوالو ترمنځ اختلاف پیدا کړیدی. مگر قام یو ، مدنیت یی یو، ژبه ، کلچر او عنعنات یی شریک وو. کوردان چه د پښتنو سره یو ځای راغلی وو، دوی د بولان په دره کې مېشته شول.

کند، زمند او شام د ژوب خوا ته ولاړل. د کاکړو په باب باید ووایو:

کاک نیکه چې زیارت یې په هرات کی دی، امکان لری چه پههغو کاسیانو کی تللی وی چه د ۱۰۰۰ ق م په شاوخوا کی هرات او غور ته تللی وو. (۳۵۱ دخپلواکی تړون )

د کاسیانو د مجمل تاریخ لیکلو وروسته زه دومره وایم چه د سهاکو او کاسیانو تاریخ په ټوله منځنی اسیا کی مشترک دی. مونږ دې خبرې ته ملتفت کوی چه

(سهاک او کاسیان ) د پښتنو دوه ډیرې پخوانۍ څانگې دي. نو د پښت بابا کورنۍ په اول سر کې په (سهاک) او (کاسی) بیله شویده. دلته یو بل دلیل هم شته. هغه دا ؤ چه که له سهاک څخه (ساکی) و منو. نو (ساکی) او (کاسی) سره ډیر نژدی کیږی. او چه د نسبت (ی) ور نه وغورځوو، نو (ساک او کاس) به پاتې شی چه بی د تورو له++++++مکانی څه نور فرق نه لري.

دا ما ته ډیره گرانه ده چه ووایم ساکی قام مخکی دی که (کاسی) خو دا یقین ته ډیره نزدی ده چه په اول سر کی دواړه یو قام ؤ. بیا ورسته دوه گرځېدلی دي. د دواړو قامونو تاریخ زرگونو کالو مخکی عصر ته رسیږی. دواړه قامه پښتانه دی. او سوونه ، سوونه قبیلی او ټبرونه ور لاندی کیږی.

خو په هر صورت د پښتنو د انسابو دا موجوده ویش چه د خوشحال خان په یوه رباعی بنا دی، نور د منلو نه دی. د خوشحال رباعی داده.

پښتون په اصل کی سړبنی دی

یا غرغوشتی دی یا بیټنی دی

لودي غلجی د بیټ له لوره

په سړبن پوری بیا کرلاڼی دی

ددې معنی داده چه پښتانه په اول سر کی: اصلی او وصلی دی. وصلی بیا په دوه قسمه دی. له نیکۍ له درکه. او د گوندۍ له درکه. چه دا ددی معنی ده چه (۱) پښتانه د قیس اولاده ده. (۲) د خپلوۍ له درکه لودیان او غلجیان دی. (۳) د گوندۍ له درکه کرلانیان دی چه د سړبنو سره ملحق دي. خو دا نظریه ځکه غلطه ده چه (۱) پښتانه اصلی او فرعی نه لري. ټول اصلي دی. (۲) دا چه د قیس عبدالرشید تاریخ ٦٠٠ کالو ته رسیږی. او علماو د پښتنو تاریخ دومره وړاندی ښولی دی چه له تاریخی دورو هم وړاندی قبل التاریخ ته رسیږی چه باید سړی ووایی : ( دا یې غر دا یې کربوړی). (۳) نو خبره داده چه د ساکی او کاسی او کرلاڼی غوندی لویه دنیا د یو شخص د اولاد پوری څنگه تړل کیدلی شی؟

نو حقیققی او واقعی خبره داده چه د (پښت بابا) کورنۍ لومړی په سهاک او کاسی بېله شویده. یعنی په اول سر کی ساکی او کاسی قومونه سره بیلیږی ! دغه مدعا ما په دغه رباعی کی راوړې ده چه :

پښتون په اصل کی ټول غلجی دی

له غره پیدا دي دغه یی ځی دی

د پښت له پښته را ټوکیدلی

که څوک سهاک دی او کاسی دی

تر دی ځایه مونږ (۱) د پښت کورنۍ (۲) ساکی ټبر (۳) کاسی قومونه وښودل چه ټول پښتانه همدا دری قبیلی دي.

اوس که فرصت وای یا د لرغونو ته پښتنو حکومتونو او امپراطورئ به مو هم ښودلی وای. خو دا نشی کېدای. نو چه په پښت کی (پښتون) تر اسلامه بیان شو غواړو چه لږ په (پښتو) وګړیږو، او بیا وروستنی مطلب ته چه پښتنولی ده ور ګرځو. او طومار را ونغاړو!مخکی مو وویل چه (پښتو) دوه معنی لری:

ملی ژبه او ملی کریکټر. پښتو د ژبی په حیث دومره مبسوط ، حاوی او اوږد مضمون دی چه که زه وربا ندی ولګیږم مضمون به دومره اوږد شی چه د سیمینار له اندازې به ووځی. بله داده چه ښایی همدا مضمون زما کوم بل ملګری اخستی وي. د پښتو په باب د پښتون قام د ژبی په حیث زه دلته دومره ویلی شم چه کوم وخت پښت د قام په حیث به اریا ته ورته ، بخدی، اریانا، پکتیکا او پښتونخوا کی موجود ؤ. ضرور يې ژبه لرله. او هغه پښتو وه. همدارنګه چه د سهاک ، یعنی ساکی او کاسی په نامه دوه پښې شو بیا یی هم هرومرو ژبه لرله. ځکه هر انسانی قام ژبه لری چه خبری وربا ندی کوی. له همدغو پښتنو څخه چه دغه دی نن هم د شل دیرش ملیونو په شمیر په منځنی ایشیا کی ژوند کوی خپله ملی ژبه لری. چې په ډیرو لهجو مشتمله ده.

فقط دومره خبره شته چه د ویدو د زمانی ژبی، د ژند د عصر ژبی، د ساکی تمدن او کوشانی تهذیب ژبه د نن پښتو سره ضرور توپیر درلود او لری یی ځکه چه

هرو زرو کالو کی ژبه بدلیږی. نو په دی حساب په پنځه زرو کالو کی د پښتو څخه ...... او په لس زرو کالو کی به یی هرومرو لس اړخونه بدل کړی وی. نو که څوک د مراکزو نومونه، ژند ....ساکانو او کوشانیانو ژبه کتٻه متٻه د ننی پښتو سره مقایسه کوی، او هر څه په کی د نن ورځې غواړي. یا دا چه د بلې ژبی د کوم لغت په موندلو یا د پردي لغت سره د شباهت پیداکولو لرغونی پښتنو بله او پردئ گڼی. لطفا دې لږ ځان پوه کړی. فقید ستالین په خپل کتاب (ژبه او ملیت ) کی لیکلی دی چه ژبه د لغاتو نوم نه دی، بلکه ژبه هغه وړې وړې .... دی چه له بنسټ څخه کلمی جوړوی او له کلمو څخه د کلام ترتیب او ترکیب، عوامل، تغیرات وړاندی وروسته والی او داسی نور څه د ژبی هویت او شخښص ثبتوی، ژبه حسابیږی .

نن سبا فونیټکس ته هم زبات اهمیت ور کول کیږی خو یواځی لغت دومره مهم نه دی. څومره چه ما حس کړیده، که نور هیڅ نه نه وی، نو یوازی پښتو ژبه چه خدای مونږ ته راکړیده، د پښتون د تاریخ موزیم دی. له اسمانه تر ځمکی ، وطن ، قومیت، سایکالوجی، شاو خوا او دنیا د همدی پښتو په آئینه کی لیدل کیږی.
خوافسوس چه دا بحث دلته نه شم کولی. زمونږ شاعر وایی:

ځمکه ارته د ارض نه

دا اسمان هم هسکمن دی

بیچاره ور باندی گرځی

له آسمانه خبر نه دی

د شاعر مراد دا دی چه

.......

علم نه لری چه ځمکه او آسمان دواړه پښتو دی. !

مونږ سره نن د قبل التاریخ ډیر لغات شته. د ساکو د ژبی متن لرو. دغلجه ژبی نمونی را سره دی. د پښتون کتیبی ، او د سره کوتل ډبر لیک ، د ارزگان لیکلی ډبره نور او نور ډیر څه شته. خو د پورته ارغنداوله مخور ور نه تیریږی. ....

د پښتو په ژبی تر دی زیات څه ویل دلته زما وظیفه نه ده .

پښتو د ملی سجیی، ملی کریکټر، اجتماعی روحیی او نشنل سایکالوجی په حیثیت باندی خولږ ډیر وغږیدو. څه به د نورو لیکوالو تحلیل ته رجوع وکړو چه معلومه شی، دا یوازی زمونږ ادعا نده.

شاهدان هم لری. په کوزه پښتونخوا کی میا سید رسول صاحب (رسا) خوشخال خان د دیوان په مقدمه کی چه په پیښور کی یی چاپ کړیدی داسی لیکی:

پښتو کلمه پښتو ده. معاشره کی دوه معناوې لری:

پښتو، پښتانه خپلی ملی ژبی ته وایي. او پښتو ، پښتانه خپل سیرت ته وایي. د دنیا په هیڅ قوم کی ملی ژبه (یعنی د ملی ژبی نوم، د ملی سیرت په معنی نه استعمالیږی. دا امتیازی خصوصیت یوازی پښتو کلمه کی دی. یعنی فارسی یا دری دا نه وایی چه تا کی فارسی یا دری شته نه شته. عرب دا نه وایی چه تا کی عربی شته یا نشته. انگریزان دا نه وایي چه تا کی انگریزی شته یا نشته. خو صرف پښتانه وایی چه تا کی پښتو شته یا نشته.

پښتو یو ډیره پرمعنی او جامعه کلمه ده. دا د پښتون قام د ژوند په هر اړخ حاوی ده. پښتو د پښتنو د ملی ژوند، د عزت او شرافت لوړوالی، غیرت یو داسی معیار دی چه پښتانه په دې تله پښتون تلی. او کوم پښتون چه د پښتو څخه پریوځی نو د پښتنو د نظر نه پریوځی. پښتون په ښتو کی ننگ، مړانه، شجاعت، مېلمستیا ، انتقام، سخاوت، غیرت ، عفو، استقلال، زحمت ، عزم، اراده، پت، ملگرتیا، دوستی، سادگئ ، صاف گویی، حق ویل، بی پروایی، ایثار، قربانی، سیالی او داسی نور ښه صفات شته. د پښتون پښتو د اسلام نه مخکی هم د پښتون قام د ژوند یوه ضابطه یا د حیات فلسفه وه، او د اسلام له قبلولو پس هم د پښتون پښتو قایمه ده!

اسلام د پښتون په پښتو ضرور خپل رنگ نشرولی دی. خو بیخی خپله کړی نه ده. یعنی مونږ دا نه شو ویلی چه پښتو د اسلامی اخلاقو مجموعی ته وایي. یا گوندی پښتو او اسلام یو څیز دی. په هر صورت اسلامی اخلاق ددی قوم مزاج ته نزدی وو.نو ځکه چه اسلام راغی نو پښتنو په ربړ قبول کړو. او ټول مسلمانان شول. اکثره پښتانه لیکوال اسلام او پښتو یو شی گڼی. مو زه اسلام او پښتو مترادف الفاظ نه گڼم.

پښتو د پښتون قام د ملی اخلاقو ، خویونو، دود دستور د مجموعی نوم دی. یعنی پښتو د پښتون ملی سیرت دی. پښتون من حیث قوم مسلمان شویدی. دا امتیاز یوازی پښتون قام ته حاصل دی. تر دې چې په عربو کی دا امتیاز نشته. په عربو کی عیسایان او یهودان شته. خو پښتانه له یوی مخی ټول مسلمانان دي. او په مسلمانی ټینګ دي. د پښتون قام ژبه هم د مسلمانانو ژبه ده. ( نو په دی لحاظ پښتو او مسلمانی یو شی دی)

په دغه اعتبار سره که په پښتنو کی څوک مذهب بدل کړی، نو هغه د پښتو د میزان نه غورځیږی. پښتانه یی هډو پښتون نه ګڼی. اګر چه نسلا هغه بیا هم پښتون وی. او ژبه یی هم پښتو وی. خو هر کله چه مسلمان نه وی په دی وجه په پښتون قام کی هغه خپل قومی وقار بایلی. او د پښتنو د ملی وروروۍ نه خارج شی. د پښتنو معیار دا دی چه (مسلمان او سنی دې وی) !

مونږ مخکی وویل چه پښتو د پښتنو د ملی سیرت نوم دی. دا سیرت چه پښتون په هر چا کی ووینی که پښتون دی که غیر پښتون ، مسلمان وی که غیر مسلمان، نو پښتانه وایی ډیر پښتون سړی دی. یعنی د پښتون د ملی سیرت یا پښتولرونکی دی.

پښتانه په خپلو منځو کی هم وایی، فلانی ډیر پښتون سړی دی. ددې نه مراد دا نه دی چه فلانی ډیر ښه مسلمان دی. بلکه مطلب دا وی چې دې سړی کی پښتو پرته ده. کار یی د نمونه پښتون دی. او د پښتو په لارو چارو روان دی. ددینه دا معلومه شوه چه پښتانه د پښتو او پښتون الفاظ یوازی دی اسلام او مسلمانی په معنی کی نه استعمالوی. بلکه د خپل کریکټر دپاره استعمالوی چه دا سلامی او پښتنی اخلاقو څخه جوړ شوی دی. اوس نو مونږ پوهیږو چه هر پښتون ضرور ده چه مسلمان وي. یعنی کوم سړی چه نسلا پښتون مسلمان به هم وي. مګر دا ضروری نه ده چه هر پښتون چه مسلمان وی ، نو پښتون به هم وي. یعنی که څوک نسلا پښتون او مذهبا مسلمان وی، نو پښتون به هم وی. نو نتیجه دا را ووته چه ( هر پښتون مسلمان دی،خو نه هر مسلمان پښتون او نه هر پښتون، پښتون دی)

په یو نمونه پښتون کی د پښتو د نور صلاحیتونو او صفاتو څخه علاوه د څو صفتونه ضروری دی: مېلمه پال دې وی، بهادر دی وی، د پښتون د ننګ محافظ دی وی، د همت خاوند دی وی، د غیرت ساتونکی دې وی. ژبه دی یی پښتو وی. د پښتنو د یو شریف خاندان او مستندی قبیلی سره دې تعلق ولری.

دا خو د ساهو او نمونه پښتون اوصاف وو چه و مو ښودل. اوس به د یو عام او ساده پښتون په باب مطالعه وکړو.

میا صاحب وایی چه پښتانه د ( سترِی مه شی ! ) په جواب کی ( خوار مه شی) وایی. نو دوی له خواریځ او مفلسیځ ویریږی. مګر زه په دی فکر کی یم دا خوار مه شی! معنی دا ده چه ذُلیل ، بی آبه او په سیالانو کی سپک مه شې ! پښتانه له هر څه زیات له حقارت او سپکاوی ډیر ویریږی. په دی کی شک نشته چه سړی نیستمن شی، نو بې آبی ورسره لازمه ده. ځکه نو نیستی نه شی ځغملای .

میاصاحب وايي: همدا پښتنون چه له نیستئ او مفلسئ دومره وېریږی، او پیسی یی دومره خوښی دی، خو چه د پښتو په پله او دو کی راشی ، داسی یی والوزوی چه سړی ورته حیران پاتی شی! د مصرف او سیالئ په ځای کی هیڅ ډېل نه وی !

په ډکه خوله وایی: ( پیسی خو د لاس خیری دی. )

زه دا وایم چه پښتون ځان تیټ نه شی لیدلای. د ډیر عزت نفس او پوره خودئ په برکت ځان له سیاله کم نه ګڼی. مګر دا بیله خبره ده چه پخوا سیالی په علم، کمال، سخا، همت، میدان ګټلو، ښه خبره، سړیتوب اوفضایلو کی وه. او اوس ورته استعمار معیارونه بدل کړل. پښتون بیچاره را ګیر شو. خپله سوسایتی او روزنه یی تباه شوه. خو دی بیا هم په موجوده معیارونو ځان برابر ساتی. پیسی ګټی او په سیالیو کی بادوی ! میا صاحب وایی: پښتون زمینداری او د لاس مزدوری د عزت کار ګڼی. خو کسب، تجارت او سوداګری ته په سپک نظر ګوری ! زه وایم چه کسبونه ډیر قسمه دی. پښتون یی ځکه نه خوښوی چه د پیسو سپیتانه نه شی کولای. میاصاحب وايي: پښتون ته ډارن ویل لویه کنځا ده. ځکه چې دی بهادر، تورزن، او شجاع دی. نو د ډارن تحمل نه شی کولای. پښتون وايي: (یوه ورځ سړی پیدا کیږی او یوه ورځ فنا کیږی.) په جامعه کی ولی سړی سپک معرف شی!

میا صاحب وایی: پښتون ښه لښکری دی ، خو سپاهی نه دی. ضابطه نه منی. بیا وایی: ښه فاتح دی، خو ښه منتظم نه دی. مګر زه وایم چه میا صاحب د استعمار او انحطاط عصر ته ګوری. وړاندی نه ګوري ! میاصاحب وایی: پښتون جمهوریت پسنده دی. ځان د ورور عزیز سره برابر ګڼی. که خپله ډیر خوار او

نیستمن هم وی، خو ځان له چا نه کم نه ګڼی. او سر نشی ټیټولای. خپلی دعوی په جرګه کی فیصله کول غواړی.

میا صاحب وایی: پښتون ګوندی مار دی. په پره جنبه ډېر ښه پوهیږی. او پره جنبه یې ژوند دی. میا صاحب باید پوه شي چې دا پره جنبه هماغه شی دی چه نن ورنه غربیانو فلسفه جوړه کړیده. د پښتون له ورمیږه که د استعمار جغ لری شو، و به ګوری چه ډیر مترقی انسان دی!

زه وایم دا ځکه چې موسیقی او سندری ملی هنر دی ! نه په رذالت د پیټو ګټل نو میا صاحب ځکه هنژ خو یی خوښ دی . مګر رذالت یی لا زمونږ هم بدی راځی وایي: زه وایم که په رذالت کی طمعه ، فریب، او ډار نه وی. او دین نه خرڅوی. نو ملا هم پښتون دی. او که ملا یی له پښتو څخه د باندی کوم بل رنګ دی. نوپښتون یی نه منی ! او زه وایم چه ښه کوی ! میا صاحب وایي: پښتون شهوتی دی. خو حیادار دی. د نفس او شهوت په کار تفاخر او تبارز نه کوی. زه وایم دا ځکه چه په آنی شهواتو پسې سر ماتول د ارذالو کار دی. او پښتون دروند انسان دی!

میا صاحب وایي: پښتون پوخ دوست او کلک دښمن دی. پښتون منافق نه دی. زه وایم دا ځکه چه موقر انسان هر ساعت رنګ نه شی بدلولای!

او نفاق اخر ښکاره کیږی. دده عزت نفس یی نه مني!

میا صاحب وایی: پښتون صاف ګو دی. خو حق ګو نه دی.زه وایم چه مخکی میا صاحب پښتون ته حق ګو ویلی وو. هیر شوی یی دی. پښتانه وایی ( خبره کوه د خدای دپاروه ، کوتک وهه د ورور دپاره)

میا صاحب وایي: پښتون جاه پرست او خودپرست دی. خو مطلبی نه دی. یعنی دوستی محض د مطلب دپاره نه کوی. پښتون خواری کښ او زحمت کش دی. تن اسانه نه دی. زه وایم دا ځکه چه مطلب اخر ښکاره کیږی. او پښتون دا د شرم کار نه شی کولای!

میا صاحب وایی: پښتون سوال ذلت ګڼی. نه یی کوی. خو سوالګرو ته ډیری پیښی ورکوی. په خیرات او صدقه کی مېړنی دی. زه وایم دا ځکه چه چا سم پوه کړی نه دی !

میاصاحب وایي: پښتون د عزت وړی دی چه په خوړه خوله او د پښتو پ اصولو ورسره خبری وکړی. هر څه مني خو چه په آمرانه لهجه او زور ورته څه وایی شخیړی. کنځل او بی عزتی قطعا نه ځملای. ځکه چه سپکاوی نه مني! پښتون په ښځه لاس نه اوچتوی. ښځی سره جنګ کول عار ګڼي

پښتون سره چه ظلم زیتی وشی، او بدل نه شی اخستی، نو په زړه کی یی ساتی. خپل وار ته ګوری، او بدل نه پریږدی!

پښتون عفوه او تیریدل هم لری. خو په دی شرط چه معتدی عذر او ننواتی وکړی. د جرګی او مرکی په ډول د مظلوم کور ته ورشی. نو هر قسم ګناه چې وی بخښی یی . مګر کلانکار ظآلم سره نه جوړیږی. چه هغه سکندر وی، که فرنګ وی، که اورنګ ! پښتون په اولاد مین دی. ن مخامخ او د خلکو په مخکی ورسره مینه عار ګڼی. اولاد په رعب کی ساتی. پښتون په ښځه مین دی. سر پری ورکوی. خو ښځه د تجارت مال نه ګڼی. د ښځی نمایش ورته لوی عیب او مرګ ښکاری. پښتون دکالو په نمایش نه دی خوښ: ساده ، خړه پړه جامه ، داسی جامه چه د جسم اندامونه یی پټ وساتی، پښتون خوښه ده. پښتون چه بل چا ته ډیر عزت ورکوی نو وایی ډېر پښتون سړی دی. یعنی ایله یی د ځان سره برابر کړی: زه وایم دا ځکه پښتون وطن پرست دی. په ټول چه د پښتون په اند د شرافت معیار پښتو ده اوبس جهان ګرځی. خو زړه یی په وطن کی وي. تل د خپل وطن ارمان کوی !

د میا صاحب ډیری خبری ځکه ما پریښودی چه ده خپل قام ته د پیغور او تنبیه په ډول لیکلی دي. ما یی جوابونه او تحلیل لازم و نه ګاڼه!

لسانی پښتو او ایمانی پښتو

مخکی مونږ پښتو دوه معناګانی وڅیړلی. یعنی پښتو د قام د ژبی په حیث او پښتو د اخلاقی ضابطی یا نشنل سایکالوجی په حیث .خو دلته دا خبره باید هیره نه کړو چه اولی یعنی لسانی پښتو، او دوهمه یعنی ایمانی پښتو یو تر بله سره ټینګ ارتباط لری. پښتو د پښتنی ایمان حامله ده. او پښتنی ایمان بی له پښتو مشکل دی چه چا

کی پیدا شی. دا چه پښتانه ځینی غیر پښتون عناصرو ته پښتون وایی. دا یو تشویقی لقب دی د هغه چا دپاره چه د پښتنو ځینی عالی اخلاق په کی موجود وی. خو نمونه پښتنی اخلاق په هغو کسانو کی چه ژبه یی پښتو نه وی. یا زده کړی نه و ي. یا یی ددغو اخلاقو تربیت نه وی اخستی. یا دا چه د پښتنو په سوسایټی کی نه وی لوی شوی، د پښتنو لغات، ادبیات، موسیقی ، قصی، روایات، متلونه، فولکور او دود دوستور یی نه وی لیدلای. قطعا مشکه ده چې ووایی زما اخلاق د پښتنو دی. پښتو ژبه د سیرت حامله او د پښتنو د تاریخ موزیم دی. له ښه مرغه بیښتنه او نور قومونه چه نژدی او ګډ اوسیدلی دی، اوعمرونه عمروه یی ګډ ګذران کړیدی، ټول د پښتنولی په روحیه پوه او عادی دی. یوه ورځ په بازار کی د یو پښتون او هزاره جنګ شو. خبری یی سره ډیری واړولې. پښتون ورته وویل، ما خو پیژنی چه افغان یم. هزاره ورته وویل (هر کس که غیرت داره افغان است) دا جمله زما دومره خوښه شوه چه په همدغه ورځ می د روزنامی په سرمقاله کی ولیکل

( هر کی که غیرت دارد افغان است) رشتیا چه ( غیرت د پښتنولی د کتاب عنوان دی) ! ډیر شکر دی چه د افغانستان ټول خلک غیرتیان دی. هیڅ فرد له بله کم نه دی. اوس به د پښتنولی په اساساتو وغږیږو البته د پښتنولی استفاده مشکله ده. پښتانه وایی: (پښتو هیچا نه ده پوره کړی ! )

پښتنولی د حیاتی مسلک په حیث

شهید خان عبدالصمد خان به ویل: پښتنولی د پښتنو د ژوند ژواک او دود دستور قانون او کتاب دی. پرنګیان چه د پښتنو په ځمکه مسلط شول. نو د پښتنو علاقی یی به یی په پولیټکلیو کی داخلی کړی. او په سرحدی علاقو کی یی پښتنی جګرې ومنلی. خو پرنګیان په دې کار کی ناکام شول. ځکه چه دغه جرګې د پښتنو حقیقی جرګی وې. د جرګو نمایندګان به انګریزانو ټاکل. او پښتنو پردی نمایندګان چه له قومی دستوره به چپ روان وو. خپل نه ګڼل . او د هغو پریکړو ته به یی د زړه اطاعت نه کاوه.

اوس دا پروپاګند په ډېر شد و مد کیږی چه پښتانه مشر نه منی. ملکونه نیوی نه شی او اداره نه شی کولای. افسوس دی چه دا پروپاګند د پښتنو خولو ته هم رسیدلی دی ! مګر دغومره هیڅوک نه شی کولای چه پښتانه که پښتون په رنګ شلخی مشر نه منې. او که له حقیقی مشره انکار هم کوی! که له حقیقی مشره یی

انکار هم کولای نو احمد شاه بابا، میرویس خان، شهاب الدین غوری او شیر شاه سوری، بهلول لودی، علاوالدین غوری، امیر کروړ، ابومسلم خراسانی ، د برمکی خالد بابا کورنۍ، د غیاث الدین غوری ، د یفتلیانو امپراطورمهیراکولا، کانشکا، افشنور یفتلی بادشاه ، کندوفارنس پهلوی امپراطور ، او ساس جوړه کړې پارتتی امپراطوری، د کاسیانو بابلی امپراطوری ، د تخاریانو لوی کونفیدراسیون، د ساکو لویه کونفیدراتیوه امپراطوری چه زرینه ملکه یی په سر کې وه، همداسی هم د ملک سهاک او جمشید پوری سوونه مراکز او امپراطوران زمونږ په یاد دی چه سکندر، سیروس، فرنگ او اورنگ یې له ملکه وشړل. دا څوک وو؟ او د چا په قوت دا کارونه شویدی؟

البته پښتانه خپله حیاتی فلسفه او ځانته مستقل مسلک او مذهب لري چه په هر چا او هر مذهب او هر مسلک کې یی اثار علایم او مظاهر وگوری تایید کوی یی. خو سل په سلو کی د کومی لاری او مسلک تعقیب کوی هغه (پښتنولی یا پښتو پښتونولی ) ده. تر اوسه د پښتنولی په نامه کومه مدونه فلسفه نشته. نو پښتنو علماو ځای ځای وربواندی ، څه نه څه ، لیکلی دی. په اخره کی (دې خادم) یو کتابگوټی د پښتنولی په نامه نشر کړیدی. چې په خارجی ژبو هم ترجمه شویدی. ځینی خلکو ورته ( د پښتنو اسمانی کتاب) وروایه. دا کتاب په لنډ تنگ وخت کی لیکل شویدی. او زه یی کافی نه گڼم. کافی کتاب لیکل حکومتی مرسته او توافق غواړی چې سړی په ټول قام وگرځی او سروی وکړی. خو بیا هم دا کتاب غنیمت دی. البته پښتنولی د هر حقیقی پښتون په اند مشهور معروف او منلی قانون دی. او اساسات یې پیژني !

ښه دا پښتنولی څه شی دی او اساس یی څه دی؟

په نیا کی هر مذهب او هر مسلک یوه مرکزی هسته او شعار لری. لکه چه د عیسویت اوبودیزم مشترک شعار او هسته رحم او عاطفه ، منفی مقاومت او په ځان حاکمیت دی. خو عیسویت د خدای د وجود او ربوبیت په اساس او بودیزم د درد او الم دکمولو په عنوان د نفس د وژلو دغه لوی الم ته اقدام کوی. د اسلام شعار طیبته کلمه ده. او دا چه اسلام متوسط دی افراط او تفریط په کی نشته. رهبانیت نه لری. او د چا په حقوقو خروج او بغاوت او له حدوده وتل په کی جواز نه لری. د اسلام د عیسویت او بودیزم سره دا فرق دی چه اسلام مکمل شریعت راوړی دی . مگر عیسویت او بودیزم ځینی اخلاقی دساتیر لری چه په ټول حیات حاوی فلسفه

نه لری. خو دا دری واړه مذهبه د ظلم، تعدی، او تجاوز سخت دښمنانان دي. اما اسلام د ظلم سره په توره جهاد فرض گڼی. خو عیسویت او بودیزم یوازی په منفی مقاومت او تبلیغ اکتفا کوی !

تر دغو دری واړو دینونو پسې یوه بله فلسفه پیدا شوه چه سوشلزم یا کمونیزم یی بولی. بد کمونزم فلسفه داده چه د ټولو ظلمونو بنیاد دولت او پیسه ده. لکه اسلام چه ویلی وو: ( حب الدنیا راسکل خطیئته ) او علاج یی دا گڼی چه پیسه او د پیسی ذرایع ځمکه ، فابریکه او بانکونه باید د هیچا نه وی. او د هر چا وی. یعنی د دولت دې وی. او د هر چا دې وي. د دری دینونو په وخت کی دولت دومره عمومیت نه و پیدا کړی. لکه د کاپیتالیزم په وخت کی. نو کاپیتالزم د دولت په مرسته پیسه د هر چا دپاره په هره ذریعه گټل روا گڼی.

خو کمونیزم یوازی په تولیدی چارو پیسه گټل جایز گڼی. خو گټه به د قوت په اندازه او مصرف په اندزاه د دولت ه خزانی نه کیږی. کمونزم او کاپیتالزم دواړه ځینی انسانی غرایز ازاد پریږدی. خو اسلام یی کنترول کوی. ځکه چه غرایز ازاد پریښودل د شیطان د تمرکز دپاره ځای پیدا کوی. کاپیتالزم دنیا په زور اشغالول جایز گڼی ، خو کمونزم د زور جواب په زور لازم بولي. دغه دری دینونه او دوه مسلکونه د خوشحالی او تباهی اسباب په انسان کی لټوی. ادیان یی تربیه کوی. خو مسلکوونه یی مخه په اتوریته نیسې چه دا ناشونی کار دی. کاپیتالزم په مذهب عقیده نه لری. خو د عوامو د کنترول دپاره یی وجود نه نفی کوی. نور نو د حرام او حلال پروا نشته. کمونزم نه مذهب منی او نه هم د مذهب بنیاد چې خدایی عقیده ده. وایی ساینس یی اثبات نه کوی . نو په دغه لحاظ په دولت کی د مذهبی تشکیل وجود بد بولی. ځکه چه وایی بیکاری او د بدی استفادی لار خلاصیږی. بله دا چه کمونزم یوه کمونستی طبقه منی . بله هیڅ طبقه نه منی. بنا پر دی ددغه سخت او شدید اقتصادی ، سیاسی او اجتماعی کنترول دپار ه واحد ، متمرکز او کل اختیاره حزب لازم بولی. او ددی دپاره چه امپریالزم یی له اسرارو خبر نه شی پولیسی نظام په کار دی چه هر څه دی هغه په اختیار کی وی. نوددی دپاره چه ددغومره سخت کنترول ستغوالی کم شی، جنسی ارتباط بیخی ازاد وی. سره ددی هر څوک ورباندی پیسه نه شی گټلای. او که وی گټی، دولتی اوتوریته یی چا ته نه پریږدی. البته دا حکم د ټولودپاره دی. انسان د ټولو افکارو محور دی. مذاهب انسان اصلاح کوی . خو مسلک یی اداره کوی. ( کار او عمل ) د هر دین او مسلک

هدف دی. ادیانو او کمونزم کار او عمل په جایز او ناجایز ویشلی دی. خو کاپیټالزم اساس دی. هر هغه عمل چه بل ته په کی ضرر نه وی روا بولي. ادیان وایی بیکار د بد کاره ښه دی. نو ځکه خیر خیرات نیک عمل دی. مگر کمونزم وایی بیکاری حر امه ده. او بیکار په کار نه دی. بیکاره دې یا مړ یا بد کار شی. ادیان او کاپیټالزم وایی : کار د ژوند ذریعه ده . که څوک مرفه ژوند غواړی ښه کار به کوی. خو که کله چا کار نه کاوه له جامعی نه ایستل کیږی. نصیحت ورته کیږی. بنا پردې اخلاقی او دینی اساسات تبلغول او ساتل هم د ادیانو له مخی کار گڼل کیږی. مگر ددی کار اجرت به جامعه ورکوی.

راغلو (پښتنولی) ته. دا هم یو مسلک دی. شعار یی دادی چه (زه یم پښتون مسلمان، چار مې پښتو ده ، کار می خدمت دی ! )

و مو لیدل چه پښتو ، مسلمانی، کار او خدمت ، د پښتنولی څلور ارکان دی. د چار او کار فرق دادی چې چار ایمانی وظیفه ده. خو کار اخلاقی مشغولیت دی. ددې شعار په سر کی هم (پښتو)د ایماني چاری سرنامه گڼل شویده. نو په مونږ لازمه شوه چه حتما باید د ( پښتو، پښتنولی) په اساساتو وگرځیږو:

(پښتون مسلمان) یو تر بله نه بیلیږی. نو په (پښتو مسلمانی ) روان انسان د یوې مکملې لارې ، اصولو او قانون خاوند دی. پښتون مسلمان ځکه په مذهب ټینگ دی. او مذهب هم د اسلام مذهب چه تر ټولو ډیر مکمل او تجربه شوی دی. چه دا یوه سمه ، هسته ، مستقیمه او نه ړندیدونکی لاره ده. مسلمان پښتون بی لاري نه شی منلی. نو یوه ټینگه اکو ثبته لاره بی (پښتو مسلمانی) بل شی نشته.

د پښتنولی د ټولو یا اکثرو اصولو اساس (غیرت ) دی ځکه نو پښتون یو غیرتی انسان دی. غیرت په اسلام کی هم د پښتو په اندازه یو ټینگ اساس بلل شویدی. پیغمبر ویلی دی: ( من لا غیرت له لا ایمان له : ( یعنی څوک چه غیرت نه لری ایمان نه لری. )

نو غیرت د مسلمانی لوی رکن دی. لکه د پښتنولی چه دی. څوک چه غیرت نه لری مسلمان نه دی. همدارنگه لکه چه (بیغرته ) پښتون نه حسابیږی، که غیرت د افغانیت عنوان او شعار نه وای نو زمونږ واکولانو به دا عنوان ولی خوښاوه چه ( زما عزیز او غیور ملته !) عناوین او صفات خو نور هم ډیر وو، مگر هر کله چه

له تاریخه مونږ ته غیرت په میراث پاتی دی،، نو دا په شعوری ډول زمونږ واکوالان وایي :
زما عزیز او غیور ملت!

اوس زه غواړم چه په شعوری ډول غیرت وڅیړم او شرح یی کړم.

نور معاصر مسلکونه غیرت ته ( د ځان عزت) (خودی) او (شخصیت ) وایی. رذیل او بی شخصیته انسان خو د هیڅ ښی نه وی. په ځان متکی د شخصیت خاوند چه سپکاوی ، بیحرمتی ، رذالت او سرکوزی نه منی. خو هغه کوم کار دی چه نه یی شی کولای. (غیرت د سړیتوب معیار دی)

څه رنګه چه هر دین او هر مسلک کلمه او شعار لری، نو همدغسی مقابل او مخالف هم لری. مثلا د اسلام په مقابل کی کافر دی چه خدای نه منی. د کمونزم په اساس سهین انسان کمونست دی چه په ځان او خپل مټ ژوند کوی مقابل یی یعنی کافر یی سرمایه دار او هغه څوک دی چه بې له ګټې اوتولیده ژوندکول غواړی او نور استثمار کوی. د پښتون په حساب هغه څوک چه له پښتو او وتلی دی ( دؤس او بی غیرت دی) خو پښتون د پښتنولی د مسلک ایماندار او مومن شخص دی. هغه هیڅکله بی غیرتی نه منی. د دین او مسلک مخالفین مو ځکه وښودل چه ( تعرف الاشیاوبا ضداد ها)

ښه نو دا غیرت څه شی !

غیرت : عربی کلمه ده. د همت او مروت په معنی . په عربی کی دا کلمه تر ټولو لومړی په ښځه باندی د غیرت په ځای کی استعمالیږی. ( سړی په ښځه غیرت وکړ. ښځی په سړی غیرت وکړ. ) معنا یی داده چه سړی په خپله ښځه غیرت وکړ او ښځی په خپل مېړه باندی غیرت وکړ. اود بل چا مداخله یی د مېړه یا د ښځی په حق کی رد کړه. او دخپل حق دفاع یی وکړه . نو دغسی سړی یا ښځه غیور یا غیرتی بلل کیږی.

دا حس په عربو او پښتنو ک یو شان موجود دی. په سمایانو کی یهود، او په اریایانو کی عربی تکوم دا احساس تر یوه حده پوری دی. حتی فحاشی په کمونست چین کې هم بده ګڼل کیږی. داسی معلومیږی چې لرغونو پښتنو کی هم دا احساس

موجود ؤ. خو چې اسلام یی منلی دی، پخوانی لغات متروک شوی او عربی کلمه (غیرت) یی پر ځای ټینګه شویده.

غیرت لمړی په هغه معنی استعمالیدو. وروسته په کی توسع شوې او غیرت د خپل حق نه ددفاع ځای ته نقلف شویدی. خپل حق مادی وی که معنوی. شخصی دی که اجتماعی، په دی وخت کی دفاع له کور ، کلی، پولی ، پټی، قام، ټبر، وطن او خپل حکومت څخه او دارنګه دفاع د خپل ناموس ، شرم ، حیا، حرمت ، له خپلی ژبی ، قومیت، دین، ایین ، دود ، دستور ، روایاتو او له خپلی ټولنی او جمعیت څخه دا ټول په غیرت کی داخلیږی. قومونه او ملتونه په ابتدایی او نامتمرکز حالت کی وړاندی فکر نه شی کولای. یا دا چه اوضاع او شرایط یی وړاندی فکر ته نه پریږی . خو متمرکز قومیت ، ملیت او دولت لوی، او عالی هدف ته متوجه کیږی. هغه وخت حیا او ناموس، درناوی او حرمت اجتماعی شؤنو ، اقتصادی قواو او سیاسی مسایلو ته ور اوړی. نو غیرت دا حسابیږی چه شخص د ملت او اجتماع په قوت خپل اجتماعی ، سیاسی او اقتصادی حقوقو د پردیو او اغیارو له لاسه د ملت او دولت په نفع او ګټه خلاص او ازاد کړی !!!

خو دلته هم په رسیدلو ملتونو کی معنویات مقدم دی په مادیاتو!

ډاکټر انصاری په خپل کتاب (نشنلزم ) کی و ایی چه ( ابتدایی ملتونه له اقتصادی استعمار، او رسیدلی اقوام له کولتوریې استعمار څخه ډیر متاذی کیږی او ازاریږی ! ) دا ځکه چه د شلم قرن استعمار د کولتوری ګډوډی او انارشزم له پلوه راځی. اقوام او ملتونه له بیخه نړوی. او بیا یی غوښی او هډوکی خوری. نو ځکه نا فهمه او کم فهمه خلک چغی و هی د خدای دپاره وږی یم. خو پوه او رسیدلی او مترقی انسانان وایی، های، دین ، ایین ، ژبه، او کولتور تباه شو، جامعه مو ړنګه او کورنۍ مضمحله شوه ! وای تباهی !!!

چه اجتماعی ارتباطات وشلیږی،ملت فرد، فرد او ټوکړی ټوکړی شی، نو خارجی استعمار او داخلی ارتجاع او بی ایمانۍ مخه به څوک نیسې او څنګه به یی نیول کیږی ؟؟؟

مونږ د پښتنولی په چاپ شوی کتاب کی تقریبا په (۵۰) عناوینو بحث کړیدی . په دغو کی تقریبا (ټول ) د غیرت د کلمی لاندی راځي .

دا دی عناوین: (توره، داړه، ننواتین، ښځی په جنګ کی، د مشرانو منښت، انتقام، غزا، جرګه، روغه، تیږه ، عهدوفا ، ایمانداری، عزم اراده، ثبات، ملی غرورو، د ځان عزت ، لوړ همتی، ازادی او حریت ، مساوات، میلمستیا، په میلمه غیرت، بدرګه، د وطن مینه او وفا، ملی استقلال، دیانت، پاکی او عفت، اتفاق، سادګی، د نسل او روایاتو ساتنه، ناموس ، په خام عمر کی نکاح نه کول، د ښځو وظایف په عایله کی، تربیوی اصول، رشتیا، مرسته ، بسپنه، ګوندی، یرغمل، ښځه او مېړه ، کونډتون او داسی نور !

اوس وګوری غیرتی ، خوددار، د شخصیت خاوند او مېړنی شخص تورزن وی. بهادر وي. په میدان کی تری ګټه کوی. عدل او انصاف هیڅکله له لاسه نه ورکوی. داړه یا شبخون د جنګ او د کامیابی یوه لاره ده. ننواتی کله له ننوتل نه جوړه شویده. یعنی دا چه یو سړی په عذر د چا کور ته ننوځی، نو غیرتی انسان یی مخی ته خاوری شیندلی شی. ښځی په جنګ کی مصونی وی. غیرتی انسان څنګه کولی شی چه ښځه یعنی د کور او ودانی میرمن ، د اولاد مور، د امن او د صلحی سمبول ، د حسن ، جمال، مینی او محبت مظهر، په ټوپک وولی؟ نو د خدای قهر او د فطرت غضب ځان ته روا کوی او د انسانیت او تمدن نه د بغاوت مرتکب شی؟ د مشرانو منښت ، دا هم د اغیرتی انسان کار دی چې د خپل وقار د ساتلو دپاره مشر ته اطاعت کوی او د سوسایټی اصول حفظ کوی. انتقام همد میړنو کار دی ځکه چه متمرد په سزا و نه رسول شی جامعه ړنګیږی. غزا خو هر څوک پوهیږی چې مقدس جنګ ته وایی او د دین د ناموس دپاره کیږی. دا هم لوی غیرت دی. جرګه د مېړونو او سړو کار دی. چه خپل مطلب په دلایلو او د سوسایټی په قوت مخکی بیایی. نه په شخصی قوت او تمرد. روغه ، بهادر ، مېړنې او غیرتی هغه دی چه د ضرورت په وخت کی جنګ کولی شی ، نه ډارېږی. خو که څوک صلحه غواړی وینو تویولو ته اقدام نه کوی !

تیږه: د صلحی سمبول دی. یعنی روغ او مدنی انسانان چه د چا سره یوه تیږه ږدی، نو معنی یی داده چه زما او ستا تر منځ امن دی. دا یوعهد دی. غیرتی کسان چه عهد وکی، ضرور ور باندی وفا کوی. او ځان د ولس، قام او ټولنی په مخکی نه بی آبه کوی !

ایمانداری، عزم ، اراده او ثبات دا ټول یو پر بل پورې تړلی دی. ایماندار سړی دروغ نه وایی، ، عهد نه ماتوی. د غداری ، جنایت او فریب نه مرتکب کیږی.

ځکه غیرتي او خود دار انسان څنګه ددغو رذایلو مرتکی کیدی شي؟ ځکه چه خلک ورته پیغور ورکوي، او حیثیت یې را ټیټیږي !

که یو شخص تورزن ، بهادر او غیور قام ته منسوب وي، نو افتخار باید وکړي که نه ؟ حتما باید افتخار وکړي او شکر وباسي ! ځکه غیرت لوی نعمت دی. بې له تواروثه ، په تعلیم او تربیه او نورو لارو نه حاصلیږي !

دځان عزت، لوړ همتی ، ازادی، حریت او مساوات دا ټول د غیرت نه پیدا کیږي. د سړیتوب او غیرت خاوند کله ځان ته سپک کتلی شي. په وړو خبرو تشبث نه کوي. په اعلی مبادیو پسې ګرځي. همدارنګه غیرتمن شخص د چا غلامی کله کولی شي؟ او ددی دپاره چه حرمت یې و ساتلی شي ، غرور ، تکبر او تفوق سړی نه کوي !

مېلمستیا ، په مېلمه غیرت ، بدرګه ، دا ټول له غیرت او خود داری پیدا کیږي. چه د چا په کور یو وږی او محتاج را ننوځي، وږی یې پرېښودلی شي؟ هغه سړی چه د چا په کور کی شپه کوي، نو باید چه د خطر له ځایه یې تیر کړي که نه ! د درانده او غیرتمن شخص دا وظیفه ده چه د میلمه سره بدرګه شي او د خطر له ځایه یې تیر کړي. پاکي او عفت هم له غیرته پیدا کیږي. چه خپل ناموس ورته ګران وي، نو د بل هم ورته ګران وي.
اتفاق ، سادګی، ناموس ، مستقما په غیرت پوري تړلي دي. څوک چه خپله ابرو ساتل غواړي دا بې له اتفاق او سادګی څخه څنګه حاصلیدلی شي؟ کاری انسان ډول سنګار نه شي کولی. دا د ښځو کار دی.

د نسل او روایاتو ساتنه د جامعي او کولتور ساتلو پوري اړه لري. په ګډه وډه او بې کولتوره ټولنه کې عزت او حرمت نشی ساتل کیدلی.

د پوخ عمر نکاح: د قوی نسل پیدا کولو شرط دی. استقلال، اجتماعی شئونو ساتل د قوی نسل وظیفه ده. چه روحا او جسما قوی وي.

د ښځو وظایف په عایله کی: د پښتنو ښځه هم غیرتی ده . یعنی ښتنه ښځه نشی کولای چه د میړه د اوږو بار وي. سینماګانو او ډانسونو ته ولاړه شي او د کور او ژوند په وظایفو کی برخه وا نخلي ! نو ځکه د مېړه سره ددې وظایف تقسیم دي !

تربیوی اصول: اولاد سخت سره ، کاری او په ځان متکی، او د قوم او ملت په توارث تربیه کول، د جامعې او ملت د ساتلو لوی شرط دی. نو ځکه د پښتون زوی ، لور باید پښتانه وی. نه تیار خواره ! له ملته وتلی او هرزه گیاگانی ! دا هم هماغه د ملی غیرت غوښتنه ده . رشتیا ویل، محتاج سره مرسته کول،د قوم سره په ضروریاتو کی بسپنه کول، د جایز، حرام دپاره گوندی تقویه کول، چه استبداد را نه شی. یعنی گډی دفاع ته حاضریدل، د ښځی او میره تر منځ وفا، او که د ښځی میره مړ شی، په اولاد کونډتوب تیرول چه اولاد یی ضایع نه شی. دا ټول غیرت دی که بل څه !

اوس به معلومه شوی وی چه غیرت د فردی او اجتماعی ، ملی او دولتی شئونو د ساتلو محافظت او د جامعی د ټینگتیا، او د نیکو اخلاقو او سړیتوب ، اساسی ټکی ، هسته او بنیاد دی. غیرت په یو قام کی انجکشن کیدی نه شی. دا یو توارث دی. سوونه او زرگونه کاله باید تیر شی چه له یوه عصره بل نقل شی. یا دا چه په همدومره موده کی یو قام او ملت باید بی غیرته شی. غیرت ساتل د یو ملت د ژوند او ترقئ او بی غیرتی د یوه ملت د مرگ اضمحلال موجب اوعلامه ده. استعمار کوشش کوی چه یو قام بیغرته کی او بیا یی استعمار کړی.

د پښتون تهذیب او تمدن

پښتون په پښتنولی پیدا شویدی. نو د پښتنولی تهذیب او تمدن، د پښتنو تهذیب او تمدن دی. قام او ملت په بنیادی تهذیب او تمدن تشکیلېدای او ټینگېدای شي. مصنوعی قومیتونه سست وی. ډېر زر ړنگیږی. استعمار په دی اواخرو کی په دنیا کې ډېرې مصنوعي ژبې، دینونه، قومیتونه، او ملیتونه جوړ کړل. خو دا د شگو برجونه او بندونه دي. که څه هم استعمار یی ساتی. خو د فطری ملتونو سره برابریدینه شی. مگر هغه وخت چه فطري اصول و مني. استعمار د فطری او تاریخی ملتونو او قومیتونو...... په کار واچولی چه سست او ړنگ یی کړی. له دغو دسیسو څخه بې غیرتی او گډوډی خپرول ډېره کاري وسله ده. !

د فشار لاندی ملتونو او د هغو خواخوږو ته لازمه ده چه له بیغیرتئ او گډوډیو څخه یې وژغوري. په ډېر افتخار سره باید ووایو چه د پښتنو د تهذیب او تمدن اساسات ډیر لرغونی، متین او مجرب دی. خلک او ځینی خارجی قوتونه اړم دي چه گډوله یې کړي. مگر دا ښاغلی ملت هم پوهیږي او مقاومت کوي. اوس به

وگرو چه د تاریخ په .... پښتنو ته د پخواني تهذیب څخه چه تر اوسه هم زوړشوی نه دی، څه شی را پاتی دي.

دې خادم د (افغاني تهذیب او تمدن) په رساله کې چه د ۱۳۵۳ کال په میزان کی د ننگرهار ورځپاڼې خپره کړه، لیکلی دي: د هر قام د تهذیب او تمدن د اساس خښتې د هغه د تاریخ ، ادب او معاشرت په څیړلو کې پیژندل کېدای شي. هیڅوک په هیڅوخت کی نشی کولای چه یو قام او ملت کاملا له یوی لارې بلې ته واړوی. یعنی له فرانسې څخه جرمن او له جرمن څخه انگریز جوړول، یا چینی په روسي او روس په امریکایی بدلولو نا ممکن کار دی. که دا کیدای شوای، نو یهود به په عربو او عرب به انگریزانو یا روسانو کی ورک شوی وای ! البته د اعصارو او زمانو په تیریدو اود شدیدوانقلابونو په راتلو سره یو ملت تضعیف کېدی ، خو کوچنی کیدی او محوه کیدی نه شی. خو یو ضعیف او کمزوری شوی ملت قوی کیدی او په خپلو پښو دریدی هم شی! دغه د ملتونو اووښتل او را اوښتل په نن عص کی علم گرځیدلی دی. که څوک موفق شی چه دعلم پر اساس د ملت د پیژندگلوئ سره لاره تعقیب کړیې، نو لوېدلی ملت به د تهذیب او تمدن نوی او ځوان عصر ته ورسوي. په یوه ملت کی د تهذیب او تمدن د اساساتو د ټینگولو دپاره تر ټولو لومړی د خپل تاریخی کولتور په بنیادونو د انسان روزل په کار دی!

زردشت خپل ریفورم د ویدونو د عصر د کولتور پر اساس بنا کړ. گاندی جی د خپل نشنلزم تهداو د هندو کلچر پر اساساتو او مصتلضحاتو کیښود. لینن د مارکس په افکارو کی دومره اصلاحات وکړل چه د روس د ملت د منلو شول. چه گډوډ شول نو هغه ویجاړ شول. نو که څوک غواړی چه افغانی تهذیب او تمدن وپیژني نو د افغانستان ویدی عصر اوستایی زمانه ، ساکی امپراطوریٔ تخاری کنفیدراسیون ، کوشانی شاهنشاهی، یفتلی اریانا، پهلوا حکومتونه، د پارتیانو عظیمه ټولواکمنی، او بیا د غوریانو، سوریانو، لودیانو، غلجیانو، هوتکو،ابدالیانو ، د جهانبانی ، او ..... علم، ادب، اخلاقو، دیانت ، قوم پالنی، وطن دوستیٔ ، شهامت او شجاعت چه هم د سړیتوب مثالونه دی، په ښه شان مطالعه کړی. خو د ځان پیژندی په په اساساتو. نو دغه وخت به ( مهذب او مدنی افغان ) یا (ښاغلی پښتون) او (پښتنی هڅوب) وپیژنی !!!

مونږ د ویدونو له سرودونو څخه چه ..... لیکلی دی، ا و په دغو کی یوه مهمه جنبه د اریایی روحیاتو تلقین دی. لاندی اساسات لاس ته راځی: ( د وینی

صفايي، قوميت اونژاد له اختلاته ژغورل ، دکورنۍ او تېر حرمت ساتل، په وخت واده کول، د قومی اخلاقو او شرافت مراعات کول، ښتلی قام، د اندامو تناسب ښکلا او پیمختوب، سالم بدن، روحی نشاط، جسمانی قوت، صفایی ، شجاعت میدان ګټل، همدارنګه اجتماعی نظام ته پاملرنه، چه له کورنۍ نه شورع کیږی، دکورنۍ ریس د قبیلی مشر، او د قام، ملت ریس ته رسیږی. ددغو وظایفو او ددغو مراتبو احترام او درناوی ساتل او ورته اطاعت کول، رشیانو یعنی د هغه وخت روحانی او ادبی مشرانو کوشش کاوه چه فرد جسما قوی، پهلوان او غښتلی اوسی. ښکلی تندرست، روحا خوشحاله ، مسرور او فعال دې وی. یو ارایایی شخص باید داسی و روزل شی چه په خپل تېر قامولی ، په خپله وینه، د خپل وطن په استعداد ، د خپل قام په ازادۍ، د خپلو پلرونو په افتخاراتو، د خپلو پادشاهانو او وطن په عظمت دی معتقد وی!

د هغه وخت اروپایانو د ایندوکوښ په دواړو خواو کی چه د دوی ځانګو وه، او د دوی دپاره یی د یو ستر سنګر حیثیت لاره، په شمال کی د توریایانو، په غرب کی د سامیانو او په شرق کی د راویدی قومونو سره مبارزه کوله. نو ځکه د دوی دپاره لوړ او عالی روحیات روزل په کاریدل. په دغو ټولو مسایلو کی لازمه وه چه اریایانو خپل قومی او ملی مشخصات پاک او ستره ساتلی وای! او د دوی دپاره د خپل قام او وطن ، ملک او ملت جدا هویت او نوم لازم ؤ چه د دوی اجتماعی نظام وراندی وساتلی شی، او د دوی د امتیاز او پیژندګلوی وسیله وګرځی. ( اریانا رساله ص ۳، ۴، ۵)

د اریا په مذهب کی صفایی، د دیندار، ایماندار او ایثارکوونکی په معنی ؤ. مګر اصطلاحا یی د نجیب، شریف، اغا، او واکمن معنی لرله. ددغو معنی ګانو سره ځوانمردی، میلمه پالنه، شجاعت، او زړورتیا د وطن پالنۍ او ازادۍ احساس لازم دی. اوس دې منورین پخپله فکر وکړی چه د افغان د ژوند شرایط د همدغی روزنی تقاضا لری که یه؟ او همدغه تاریخی مزایا په اعلی پیمانه په افغانانو کې موجود دی که یه؟ نو زمونږ په ګډولګۍ کی څه فایده ده؟ البته ضرر یی دادی چه ګډوله قومونه ، په اسانۍ د پردیو خوراک کیدی شی ! دغه دی زمونږ د شپږو زرو کالونو کلتوری میراث ! او ستاسو دې قسم وي چه دا زوړ شویدی ؟؟؟
د باختر د پارداتیانو، یعنی لرغونو نیکونوکیانیانو، او اسپه لورینو څخه علاوه په پامیر کی ( رس ساکیت: .... ساکانو واکمنی) چه د کانفیدراسیون شکل یی درلود او په (۵۰۰ ق م ) کی زرینی ملکی د ساکو د لویی واکمنی جوړه کړی وه.

همدارنگه تر دوی وروسته تخاری کونفیدراسیون جوړ شو. د پارتیانو امپراطوری د پهلوا کورنۍ او د یفتلیانو لویه شاهنشاهی د اسلام تر راتګه دا ټول زمونږ تمدنی توارث ښیی. او پس له اسلامه ، د غوریانو، سوریانو، لودیانو، غلجیانو، هوتکو، او ابدالیانو لوی لوی حکومتونه او واکمنۍ ددې خاورې او ددی خلکو تاریخی عظمت او ملی قوت څرګندوی. دا قوم لا ژوندی دی. او د بلی ..انتظار باسی!

د افغانانو د لرغونی تمدن مرکز : بلخ ، بغلان، بامیان، غور، زرنج، هرات، کندوز، کندهار، کابل، پیښور، ... چه د علم ، مینی، اخلاقو، اداری لاری یی دنیا ته ښودلی دی، جهانی شهرت لری.

د اسلام نه چه مونږ څه شی زده کړیدی، هغه د یو خدای عبادت ، مساوات، جهاد، تواضع، امن او انسان دوستی ده ! زما په عقیده اوسنی افغان د ایشیا قوی نژاد ، د همت او لویی حوصلی خاوند په استقلال او ازادی مین دی، ساهو او شریف انسان، ډیر مهربان ملګری، نه ډاریدونکی، میدان نه پریښودونکی او سفارش نه منونکی دی.هغه چه زر ورته نه تسلیمیږی ! او هغه چه په دوستی کی سر او مال داو ږدی. هغه چه په فریب نه کوی. هغه چه سر ورکولی شی خو کوزي نشی منلی. هغه چه د جرګه ایزی ډیموکراسۍ په خبره ترل کیږی. خو په زنځیر نه شی ترل کیدای. دروغ نه وایی، او ژبه نه اړوی. رشتین دی او رشتیایی خوښه ده. مینه ناک دی، خو بی ناموسی یی بدی راځی. ښځه ملګری ګڼی نه شریک مال .. سړی دی او په سړیتوب مین دی. افغان او پښتون له ټولو ښو اخلاقو او سړیتوب څخه په افغانیت او پښتنولی تعبیر کوی. دا یی دین دی. دا یی مذهب دی. له هر څه تیریدی شی، خو له افغانزمه نه تیریږی.

دغه دی افغان او پښتون !!!

د پښتنولۍ اداره او سیاست

پښتانه د نهایت قوی تهذیب اوتمدن خاوندان دی. په پښتنولی کی اخلاقی رسول، مدنی اساست، اقتصادی لاری چاری، د سیاست او اداري پرنسپونه ، حقوقی قوانین او اجتماعی مزایا ټول موجود دی. په تیرو پاڼو کی له دغو مفاهیمو څخه د بیلو بیلو عناوینو وغږیدو. خو په اداره، سیاست او اقتصاد سم او مستقیم نه یو غږیدلی. حقیققتا پښتنولی د اداری واکوالی او ریاست مسلک دی. که څوک یی بین المللی کوی هم صلاحیت لری. او که نه نو تر دی ټینګ ملی مسلک په جهان کی د پښتنو دپاره نشته ! خوشحال خان د قلم له لاری مدنیت یو کتاب (دستارنامه)

لیکلی ده چې دی خادم وربانذی تبصره او شرحه لیکلی ( د خوشحال خان پښتنولی) یی نوم دی. دا کتاب ..... شویدی. د شیخ ملی علیه الرحمه (دفتر) د پښتنو د اداريې او اقتصاد یو کامل دستور دی. وایی چه یوه نسخه یی په بریټش موزیم کی شته . د حضرت بایزید روښان (خیرالبیان) لوی شاهکار دی. ( ژند اوستا) د حضرت زردشت سپینتمن جهانی شهرت لری. په دی ټولو بحث او له دری اقتباس کول جلا کتاب لیکل غواړی. خو افسوس چې دا یی ځای نه دی. مدعا می داده چه ددغو پښتنو کتابونه د اداری سیاست دپاره د پښتنو په روحیه ډیر قوی ، متین او مفید مواد لری. اصلا پښتنولی زما اداری مسلک دی. پښتانه له وړاندی زمانو څخه په ځان باندی پخپله حکومت کولو... او په زرگونو کالونو کی دی سیستم دوام موندلی دی. خو اوس څوک ویلی شی چه زور یا چال فریب د پامیر، د سپین غر غوندی قوی کولتور او مسلک د اروپا او د ایشیا په ماکیاولی ، امپریالستی، غیرانسانی مسلکونو چه انسان په کی د حیوان په اندازه قدر او اهمیت نه لری، بدل کړی. همدا دلیل دی چې د هر استعمار ، ظلم او تمدن خاتمه همدلته شویده. خو د اقبال اصطلاح ( کهسار باقی ، افغان باقی) ترانه لا په خود او مزی کی ده. هیله ده چه افغان بیا دنیا ته نجات ورکړی. !!!

د پښتنولئ واکولی:

افغانان مشرانو ته په ډیر احترام قایل دی. وایی ( سل دی ومره ، خو د سلو سر دی مه مره) مگر د یو کس فکر که هرڅومره غټ او مشهور.... نه وی، قاطع او د پریکړی په حیث نه شی منلی. تر ټولو د مخه افغانان په سیاست او جهانبانی کی جرگی ته قایل دی. البته د پښتنو جرگه ځانته مستقل شکل لری. په ناموس باندی له کوره تر دولته ډی ټینگ دي. سخت دیندار او اصولي خلک دي. البته د پښتنو اداری روحیه ورنه په ښه شان پیژندل کیږی. د اسلام نه په وروسته عصر کې، د برمکی کورنئ ، امیر کروړ، شهاب الدین غوری، بهلول لودی، شیرشاه سوری او د احمدشاه بابا د پښتني اداريې په باب مضامین لیکلی دي چه د مشوريې سر ور نه لاس ته راځي. خو دا مسله ډیر فلسفي تعمق غواړی. ( د پښتنوواکوالی) تر عنوان لاندی ما په یو کتاب لیکلو لاس پوری کړیدی. خو لا ځینی برخې یی پاته دي.

ددې ټولو یادگیرنو څخه مدعا داده چه د پښتولی اداره او سیاست د ننی عصر د چال، فریب او دیماگوژیک سیاست باندی نه شی قیاس کیدی. مسولینی او گاندی

جی په دی عقیده وو، چه پښتنولی او ..... تر ټولو ښه سیاست دی. زه پخپله په همدی عقیده یم. زه د دنیا او د اوسنیومشکلاتو بیخ ماکیاولیزم گڼم !

په اوسنی حآل کی د قدیم باختر

د اداری طرز بقایا

د ملکۍ سیستم: مخکی مو ویلی دی چه د (ملک ) کلمه د (ل) په زوره کی پښتو کلمه ده. عربی ته د (ل) نه په زېر نقل شویده. د ملک کلمه د پنځو شاهنشاه او امپراطور په معنی ؤ. خو چه څومره د پښتنو دنیا کوچنۍ کېده ، نو د لغاتو معنی هم محدوده شویده. تر دی چې د ملک سهاک ، ملک شنسب، ملک معزالدین سام، او د غور د کتیبې ( ملکا، ملکان) چه د (بادشاه د بادشاهانو) معنی لری. د قریی او کلیو ( ملک ) ته را ورسیده. داسی معلومیږی چه پخوانی اداره له قریو او کلیو نه شروع کیده، ان تر (ملکا، ملکان ) او امپراطور پوری رسیده. ډیر دلایل شته چه قدیمه افغانی اداره جرگه یی وه.

اعلیحضرت امان الله خان مرحوم همدغه سیستم را ژوندی کړی ؤ چه جرگه یی طرز له علاقداریو ، تر حکومت ، لوی حکومت ، نایب الحکومگی او د وزیرانو د جرگې پوری رسیدلو. مگر استعمار چه هغه وخت په زور او شور کې ؤ ، په موږ یې ورانه کړه. سردار محمد هاشم خان مرحوم د مشورې مجالس تر نایب الحکومگیو و رسول. وروسته هم دغه سیستم ته میلان موجود ؤ. مگر د غرب ماکیاولیزم چه د انکشاف په حال دولتونو کې لاس وهلو نو کامیابی په نصیب نه شوه. د ملک یعنی خان ، او بیا ولسی جرگه، چه په ځینو ځایونو کی د قام مشر ته نواب وایی، دا د قدیب باختر د فیدرالی اداری علایم دی چې لیدل کیږی او لیدل شویدی چه استعمار په کی یو څه لاس وهلی دی. او رشوتخوری خو د مغولو له وخته پاتی ده. په خوست ، منگلو ، او ځدرانو کی چه خلک تنگ شی، وایی ( خدایه پښتو یی کړی) معنی یی داده چه خدایه پ ښتنی سیستم راولی چه نر او ښځه معلوم شی. دا رشتیا وایی . د پښتنو په اساساتو کی چه په افغانی ډیموکراسی چلیږی، نالایقه او بی کفایته شخص بروز نشی کولای. چه څو د عقل ، جرات ، شجاعت، سرېتوب او اداری خاوند نه وی. په پکیتا کی اوس هم د قومی مشرانو دپاره د نایک ، امیر او خان اصطلاح موجوده ده. ددغو مشارنو د لاس لاندی د (اربکی) په نامه رضاکاران وجود لری. هر کله چه ورانه ویجاړه پیښیږی، مظلوم د قام مشر ته شکایت کوی. د قام مشر د خپلو اربکو په ذریعه ، پس له دی

چه جرگه پېړ او وړ معلوم کړی، پړ په سزا رسوی. او هر کله چه د (اربکو) پسې د قومیت قوت ولاړ وی، تمرد ور څخه نا ممکن کار دی. د پښتنو جرگه ایز سیستم ځکه ډیر پیاوړی او قطعی دی چه د پښتنو په جرگه کی قلپی نشی چلیدلی. که په قام کی دننه ورانه ویجاړه وی، او که دقام د قام سره وی ، او که د یو ولس د بل سره وی، دا ټول مسایل د حل سپینی لاری لری چه انحراف او تمرد ورڅخه نه شی کیدای ! په داخلی پښتنو او ازادو قبایلو کی د عنعنوی اداری سیاست اصول تر اوسه لیدل کیږی. خو ډیر افسوس دی چه دننه او خارجی سیاسیات په کی گوتی وهی. دا عنعنه یوازی د افغانستان او سرحد په پښتنو کی نه لیدل کیږی، بلکه افغانی، هزاره وزبک او ترکمن هم په همدغو اساساتو متعلق دی. نو ځکه مونږ افغانی قومونو ته واحد افغانی ملت وایو او دا یو حقیقت دی.

په دی هیله چه په جمهوریت کی افغانی خپلواکه، کامیاب او موفق او د پښتنولی دنیا په خپلو قوی اساساتو جوړه شی.

وروستی خبرې :

ما دا کتاب د پښتو د بین المللی سیمینار دپاره چې د پښتو ټولنې له خوا تاسیس شوی ؤ، په ډېر لنډ، نا وزگاره او د ناهیلی په وخت کی ولیکه. ځکه چې د بایزید روښان د سمینار په علمی مضامینو کې هم بی صلاحیته خلکو په خپل سر نامناسبه گوتی ووهلی او سره د تصرفاتوهم دا دی یوکال وشو، چې د مضامینو نشر په سالمه توگه تر اوسه هم متیقن نه دی. خو مونږ د لوی څښتن په توکل د اینده ملی سعادت په هیله خپله وظیفه ادا کوو. په دی کتاب کی چه باید ( پښتون او پښتنولی ) یی وبولم ، ما له ډیر اختصار څخه کار اخستی دی. په ډیرو ځایو کی په اشارو تیر شوی یم. مگر مضمون نا مکمل نه دی. ځکه چه ددی کار دپاره ډیره موده مخکی ما تیاری نیولی ؤ. هیله من یم چې د ( پښتون او پښتنولی ) دا مقدمه د اینده اکاډمیکو څیړنو دپاره لار هواره کړی، او د ( پښتون او پښتنولی ) مکمل صورت او مشرحه فلسفه د پښتنو لاس ته ورسیږی. و هوالمستعان !!!

کابل : خادم مېنه

د عقرب اوله

۱۳۵۴

قیام الدین خادم